# له بهرنيو هيوادونو څخه
# د راوړل شويو غوښو حکم

ليکوال:
استاد عبدالظاهر داعي

د کتاب نوم: له بهرنيو هيوادونو څخه د راوړل شويو غوښو حکم
د کتاب اصلي نوم: حکم گوشت‌های وارداتی از کشورهای خارجی
ليکوال: استاد عبدالظاهر داعی
موضوع: عامه فقه
د چاپ شمير: لومړي (ديجيتال)
د چاپ تاريخ: سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق
سرچينه:

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برښنا ليک: book@aqeedeh.com

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب فهرست


**سريزه........................................ ۱**

**د مسئلې وړاندې کوونه (ستونزه) ......................... ۳**

**لومړی بحث: په اسلام کې د غوښې پاکوالی ..................... ۶**

د ذکات (د څاروي پاکېدو) ډولونه.............. ۸

د ذبح لغوي او اصطلاحي تعريف..................... ۸

د ذبيحې د پاکېدو شرائط ............................ ۱۲

۱- د څاروي ځانګړتياوې (شرائط):............... ۱۲

۲- د ذبح کوونکي ځانګړنې:......................... ۱٤

۳- د تسميې شرائط:.................................. ۱۵

۴- د ذبحې د الې ځانګړنې:....................... ۱٦

د څاروي د حلالولو اداب................................. ۱٦

د څارويو او الوتونکو حلالول په نوي ډول............ ۱۷

۱- څارويو ته شوک ورکول:............................ ۱۹

۲- الوتونکو ته شوک ورکول: ........................ ۲۱

**دويم بحث: وارداتي غوښې .................................. ۲۳**

له اسلامي هيوادونو څخه راوړل شوې غوښې ............. ۲۳

له غير اسلامي هيوادونو څخه راوړل شوې غوښې ............ ۲٤

د اهل کتابو هيوادونه............................. ۲٤

لومړی ټکی: د اهل کتابو پوسيله د حلال شويو څارويو د غوښې خوړلو حکم ........................................ ٢٤
دويم ټکی: ايا نني امريکايي او اروپايي هيوادونه اهل کتاب دي؟.............................................. ٢٧
لومړی: د اروپايي او امريکايي هيوادونو سياسي موقف...... ٢٨
دويم مطلب: د څارويو ذبح کولو نوي اساليب: ............٢٩
د څارويو د حقوقو نړيواله بيانيه........................ ٣٦
غير اهل کتاب او ګډ غير اسلامي هيوادونه..................... ٥٠
افغانستان ته راوړل کېدونکي غوښې.......................... ٥١
د پلورونکو ستونزې.......................................... ٦١
د راوړل شويو غوښو په اړه د علماؤ د اندونو او فتواؤ ستونزه ٦٢
تبصره:.................................................... ٦٥
**دريم بحث: د بهرنيو هيوادونو څخه راوړل شوي خوراکي توکي ....... ٦٧**
له بهرنيو هيوادونو څخه رالېږل شوي خوراکي توکي دوه ډوله دي: ...................................................... ٦٧
**پای او پايله ............................................ ٧٠**
**وړانديزونه ............................................ ٧١**
**اخستنې (ماخذونه) ..................................... ٧٣**

# سریزه

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله صلی الله علیه وسلم، اما بعد!

پدې وروستیو کې د بهرنیو هیوادونو څخه د غوښو او نورو خوراکي توکو واردات زموږ ګران هېواد افغانستان ته زیات شوي دي، خو په مدني قانون کې ددې غوښو په اړه کوم ځانګړی بحث ندی شوی، د مسلمانانو ستونزه پکې داده چې ځینو حالاتو کې د غوښې د خوړلو اړوند ډېره بې پروایي کوي او له هر ځایه چې یې ومومي خوري یې، نن چې د نړی اقتصاد پرمختګ کړی په ځانګړي توګه زموږ هیواد ته له زیاتو هیوادونو څخه خوراکي توکي راوړل کیږي، د چرګ، پسه، غوا او نورو حیواناتو غوښې د بیلابیلو هیوادونو څخه لکه چین، امریکا، اروپا، هندوستان... څخه واردیږي.

زموږ د عالمانو لویه ستونزه دا ده چې دوی انګیري ګواکې امریکا او اروپایې هیوادونه اهل کتاب دي نو ځکه کوم څاروي چې دوی حلال کړي د غوښو خوړلو په برخه کې یې مسلمانان کومه ستونزه نه لري. اصلاً خبره دلته ده چې زموږ علماؤ د ننی امریکا او اروپا په هکله کومه ځانګړې څېړنه نده کړې او له پخوانۍ امریکا او اروپا سره یې پرتله کوي پداسې حال کې چې په ننی امریکا او اروپا کې نه یواځې سیکولر او بې دینه خلک ډیر شوي بلکې د ذبحې وسایلو هم توپیر کړی، له بلې خوا یادو هیوادو کې خلک ذبحې ته د دیني

مسئلې په سترګه نه ګوري بلکه يوائځې يوه سوداګريزه مسئله يې بولي. که څوک د قرارداد پر وخت پرې کوم څه ومني ښه او که نه نو بيا هغوی په خپله عامه طريقه او د اسلامي اصولو په نظر کې نيولو پرته ذبح کوي نو له همدې کبله د وارداتي غوښو په اړه څېړنه، په امريکا او اروپا کې د هغوی د ذبح کولو ډول او په افغانستان ته د راوړل شويو غوښو په اړه معلومات ډېر اړين بحث بريښي چې بايد تر سره شي.

د نظرية الملكية مضمون استاد محترم محمد اياز نيازي ماته دنده راکړه تر څو پدغه اړوند يوه څېړنه وکړم، ما هم له ځنډ پرته په يادو موضوعاتو مطالعه او څېړنه پيل کړه، که څه هم ما پخوا پدې اړه څه څېړنې کړې وې او خپلو زده کوونکو ته مې هم دنده ورسپارلې وه چې پدې اړه تحقيقات وکړي، نوموړې څېړنې په ډېرو تلويزوني پروګرامونو کې هم نشر شوې، دغه ټول څيزونه ماته د څېړنې په ترخ کې يوه ښه تکيه وه چې ترې مې ګټه پورته کړه.

# د مسئلې وړاندې کوونه (ستونزه)

ستونزه له بهرنیو هیوادونو څخه د راوړل شویو غوښو په اړه ده چې پدغو هېوادونو کې ډېری غیر اسلامي هیوادونه دي، نو پدې صورت کې خلکوته د شریعت په رڼا کې د دغو غوښو پېژندنه ډېره ستونزمنه ده.

د بحث موخه: پدغو غوښو کې د حرامو او حلالو غوښو تر منځ توپیر او د هغوی پېژندنه، او خپلو هیوادوالو ته پدې اړه د معلوماتو وړاندې کول.

د بحث اهمیت: ددې بحث اهمیت خورا زیات ده ځکه د حرامو خوړل د انسان د عباداتو په ټولو برخو باندې اغیزه کوي، نو د د مسلمانو داعیانو، علماؤ او مفتیانو اصلي دنده همدا ده چې پدې اړه خلکو ته سم معلومات وړاندې کړي. نو ویلی شو چې پدې اړه بحث د ټولو مسلمانانو لپاره اغیزناک ده.

پر اثارو کتنه: ددې بحث په اړه زیاتې څېړنې او لیکنې شویدي د هغې له ډلې:

د دکتور یوسف قرضاوي کتاب الفتاوی (المعاصرة)، د سید سابق کتاب (فقه السنة)، دعربستان دعلماؤو تالیف (البحوث العلمیة)، د اسلامي نړی د اړیکو د کنفرانس کتاب (د ذبح او ذبائحو احکام) همدارنګه ډېرې نورې څېړنیزې مقالې چې خپرې شوي دي.

پوښتنې يا فرضيې: پدې بحث کې لاندې پوښتنې يا فرضيې په پام کې نيول شوي دي:

١- وارداتي غوښې ټولې حرامې دي يا حلالې؟

٢- ايا له بهرنيو هيوادونو څخه راوړل شوې غوښې حلالې دي؟

٣- کوم خواړه چې له بهر څخه راوړل کيږي څه حکم لري؟

٤- اوس چې په ډېرو هيوادونو کې څاروي يا الوتونکي د برق پوسيله حلاليږي څه حکم لري؟

٥- ايا د اسلام سپيڅلی دين د څارويو د حلالو د مخه د برق استعمال ته اجازه ورکوي او يا نه؟

د څېړنې ډول: پدې بحث کې ډېر ځايه د هغې کتابتون له منهج څخه ګټه اخستل شوې چې په کتابونو کې شته دي او د امکان په صورت کې له ميداني منهج نه هم ګټه اخستل شوې ده.

د بحث ويش: دا بحث مو په، د سر خبرې، درې بحثونه، پای (پايله) او د مصادرو پر لست ويشلی ده:

د سر خبرو کې مو د بحث له موخې، د ستونزو حل، د څېړنې ډول او د څپرکيو له ويش څخه يادونه کړېده.

لومړي بحث کې مو (د حيواناتو ذبح کول د اسلام له نظره) ته ځانګړی کړيده چې پدې بحث کې د څارويو د ذبح پېژندل او ډولونه، د شرعي ذبحې تعريف، د ذبحې ډولونه (ذبح، نحر، عقر، جرح)، په نويو طريقو د څارويو ذبح کول، د څارويو له ذبح کولو د مخه د برق استعمال او له نورو وسايلو څخه يادونه کړيدې.

دويم بحث کې مو له بهرنيو هيوادونو څخه د راوړل شويو غوښو په اړه څېړنه کړېده چې پکې لومړی له اسلامي هيوادونو څخه د

راوړل شویو غوښو او بیا له غیر اسلامي هیوادونو څخه د راوړل شویو غوښو په اړه غبرېدلې یو.

دریـم بحـث مـو لـه بهـر څخـه د خـوراکي توکـو د واردولـو لپـاره ځانګړی کړی ده، لومړی هغه توکي چې پکې غوښه استعمال شـوېده او دوهم هغه توکي چې غوښه پکې نده استعمال شوې څېړلي دي.

دا چه دا څېړنې او بحثونو د انساني کوښښونو پایله ده نو څه چې سم دي د الله له لوري او هغه چې پکې سهوه شوی یم د خپلې اشتباه او غلطۍ په توګه له تاسې بخښنه غواړم.

همدارنګه له محترم استاد نیازي څخه یوه نړی مننه کوم چې ماتـه یې ددې څېړنې په کولو دنده راوسپارله او پـه سـمونه کې یـې راسـره مرسته وکړه پدې ډول هغه دې ترڅ کې مـا ښـه لارښـود مونـدلی ده. الله جل جلاله دې زما دا مخلصانه هڅـه پـه خپـل دربـار کې قبولـه کـړي او محترم استاد دې هم د کتاب له اجـر څخـه نـه محرومـوي. ومـا ذالـك على الله بعزيز.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**عبدالظاهر داعي**

# لومړی بحث:
# په اسلام کې د غوښې پاکوالی

د څارویو او الوتونکو د غوښو خوړل په اسلام کې په دوه شرطونو جایز دي:

۱- باید غوښه یې حلاله وي: د اسلام د سپېڅلې دین د تګلارې له مخې مسلمان نشي کولای چې د هر څاروي یا الوتونکي غوښه وخوري بلکه یواځې د هغو څارویو یا الوتونکو غوښه خوړلی شي چې شریعت د هغوی غوښو ته حلال ویلي وي لکه د پسه، وزې، غوا، اوښ... غوښې.

همدارنګه په الوتونکو کې هم ډېر ډولونه شته چې غوښه یې خوړل کیږي او د اسلامي فقې په اصطلاح باید ذي مخلب (چنګال لرونکي) نه وي.

۲- تذکیه شوې وي (په شرعي طریقه حلال شوي وي): د څارویو یا مرغانو غوښه هغه وخت د خوړلو وړ ګرځي چې په شرعي طریقه حلال شوي وي. ځکه په شرعي طریقې سره د حلالولو په نتیجه کې پاکه وینه له ناپاکې څخه جلا کیږي. نو پدغه اسلامي طریقه ذبح کولو کې د حیوان حلالېدل ثابتیږي چې د غوښې په خوړلو کې هم پاکوالی ثابتوي[1].

---

۱- هدایه شرح بدایه تالیف علي بن ابي بکر بن عبدالجلیل المرغیناني (ت ۵۹۳) بیروت: المکتبة الاسلامیة (دط)، (دت)، ۴۹۶/۹

د جمهورو فقهاؤ په وړاندې تذکيه هغه سبب ته ويل کيږي چې پرې کورنی حيوان په اختياري ډول ذبح کيږي[۱]. احناف بيا تذکيه د ښاروي د پاکېدو او د ماکول ښاروي د غوښې د حلالېدو او د غير ماکول د پوستکي د استفادې جواز بولي[۲].

د تذکيې حکمت: په حلالو کې حکمت دا ده چې د ښاروي په رګونو کې ناپاکه وينه وي چې له ذبحې يا نحر پرته بل ډول لمنځه نشي تللی نو ځکه د اسلام سپېڅلي دين تل مسلمانانو ته پر حلالو خوړلو امر کړی ده: ﴿يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ﴾ [المائدة: ٤] وقال تعالى: ﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ﴾ [الأعراف: ١٥٧] دا ځکه د مړو حيواناتو د خوړلو حکم ناروا ده چې هلته همدا ناپاکه وينه د هغې په رګونو کې پاتې وي.

همدارنګه د تذکيې بل حکمت د شرک او مشرکانو له عملونو څخه لرې کېدنه ده، او د انسانانو او ښارويو د خوړو تر منځ توپير ده، دا چې انسان الهی کرم تل په ياد ولري نو د هغې د نوم په اخستلو سره نوموړی ښاروی ورته حلاليږي.

---

۱- هي السّبب الموصّل لحلّ أكل الحيوان البرّيّ اختياراً هذا تعريف الجمهور لموسوعة الفقهية الكويتية تاليف زارة الأوقاف والشئون الإسلامية الكويتية، قام بتنسيقه وفهرسته للموسوعة الشاملة ۲ أبوعمر ۲/ ۳۹۰۷

۲- عند الحنفيّة بأنّها السّبيل الشّرعيّة لبقاء طهارة الحيوان وحلّ أكله إن كان مأكولاً، وحلّ الانتفاع بجلده وشعره إن كان غير مأكولٍ. الموسوعة الفقهية الكويتية تاليف زارة الأوقاف والشئون الإسلامية الكويتية، قام بتنسيقه وفهرسته للموسوعة الشاملة ۲ أبوعمر ۲/ ۷۲۳٦

## د ذکات (د څاروي پاکېدو) ډولونه

د څاروي ذکات دوه ډوله ده:

١ - اختياري

٢ - اضطراري

لومړی ډول: (اختياري ذکات): په هغه څارويو کې دا ډول ذکات شته ده چې انسان د هغه د ذبح کولو توان ولري چې په دوه ډوله صورت نيسي:

الف: ذبح.

ب: نحر.

د ذبح او نحر بنسټيز توپير او ويش ځکه شوی ده چې الله ﷻ په قرانکريم کې ذبح د هر حيوان لپاره استعمال کړيده او نحر يوازې د اوښ لپاره استعمال شويده. ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ۝٢﴾ [الكوثر: ٢] او د ذبحې په اړه: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً﴾ [البقرة: ٦٧] او د پسه د حلالو په اړه يې ويلي دي: ﴿وَفَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ۝١٠٧﴾ [الصافات: ١٠٧].

## د ذبح لغوي او اصطلاحي تعريف

لغوي: ذبح په لغت کې د يو څيز شق کولو ته وايي او وروسته بيا د څارويو د حلقوم د پرې کولو لپاره استعمال شوې ده[١].

ذبح د ذال په کسرې هغه څه ته وايي چې ذبح کيږي[٢]. په قرانکريم کې راغلي دي ﴿وَفَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ۝١٠٧﴾ [الصافات: ١٠٧] چې

١ - جمهرة اللغة،: ابن دريد ١/١١١

٢ - المحكم والمحيط الأعظم، ابن سيده ٤/١٦

د ابراهیمعليه السلام پسه ترې هدف ده. همدارنګه ذبح د حیواناتو د غاړې پرې کولو ته وایي[1]. ازهري وایي: «والذَّبِيْحَةُ: الشَّاة المذبوحة. والذِّبْحُ: ما أُعِدَّ للذَّبْح»[2]. ذبیحه د حلال شوي پسه او ذبح د (ذال په کسر) هغه څیز چې ذبح ته تیار شوی وي وایي.

اصطلاحي: د اسلامي فقهاؤ په اصطلاح کې ذبح د حلقوم، مری او یا شارګ پرې کولو ته وایي.

حلقوم: تنفسي مجرا

مری: هاضمي مجرا

شارګ (دجان): د مری او حلقوم تر څنګ چې دوه لوی رګونه ځای لري او د وینې له مجرا څخه شمېرل کیږي.

امام ابوحنیفهرحمه الله فرمايي: که د پورتنیو څخه یې اکثر پرې شي ذبح درسته ده یعنې که له پورتنیو څلورو څخه درې پرې شي او یو پاتې شي نو ذبح سمه ده او کوم خنډ پکې نشته.

امام ابویوسفرحمه الله وایي تر څو چې حلقوم، مری او د دوه شارګونو ځینې یو پرې نشي ذبح نه صحیح کیږي.

امام محمد شیباني وایي چې که له پورتنیو څلورو مجراؤ ځینې زیات پرې نشي نو د څاروي ذبح سمه نه ده.

نحر: په لغت کې د صدر (سینې) په معنی ده چې جمع یې نحور ده، ابن منظور وایي: النَّحر الصدر و النُّحور الصدُور، (نحرُ الصدر)

---

١- مفردات ألفاظ القرآن لأبي القاسم الحسين بن محمد بن المفضل المعروف بالراغب الأصفهاني، دمشق: دار النشر / دار القلم (د-ت) ١/٣٦٠ .

٢- تهذيب اللغة، الأزهري ٨٩/٢

يې تر ټولو لوړ ځای ته وايي او هم د غاړې بند ته ويل کيږي. (و نحر البعير ينحره نحرا) د اوښې په هغه ځای کې به نحر کيږي چې حلقوم يې د سينې له لوړ ځای څخه ښکاره شي. (يوم النحر) د لوی اختر د ذی الحجی لسمه ورځ ده، ځکه اوښان پکې قرباني کيږي. او په ايت شريف کې راغلي دي ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ۝٢﴾ [الكوثر: ٢][١].

نحر په اصطلاح کې د اوښ د رګونو پرې کولو ته وايي چې د غاړې ښکتنۍ، سينې ته نږدې برخې سره شته دي[٢].

عقر: عَقْرُ وعُقْرُ په لغت کې د عقم يا نازايي په معنی ده چې جمع يې عقّر او عقره ده. وعَقَر الفرسَ والبعيرَ بالسيف عَقْراً: پښې يې پرې کړې[٣]. په عربي ژبه کې عقر د اوښانو او پسونو د پښو پرې کولو ته وايي خو چې ولاړ وي، وروسته عربو بيا په وژنه او قتل کې هم استعمال کړل.

عقر د فقهاؤ په اصطلاح کې د څاروي د بدن په هره برخه کې زخمي يا جرح کولو ته وايي چې د ياد څاروي د وژلو په نيت شوي وي او په ذبح کولوېې توان ونلري[٤].

---

١- لسان العرب، محمد بن مكرم بن منظور الأفريقي المصري، بيروت: دار صادر– بيروت، ط ١، ١٩٥/٥

٢- الموسوعة الفقهية الكويتية تاليف زارة الأوقاف والشئون الإسلامية الكويتية، قام بتنسيقه وفهرسته للموسوعة الشاملة ٢ أبوعمر ١/٢٥

٣- لسان العرب، ٥٩١/٤ .

٤- الموسوعة الفقهية الكويتية ١/٢٥

اضطراري وژنه: د حیوان د بدن په هره برخه کې چې وي د ضربې راوړلو څخه عبارت ده[۱]. او د اسلامي فقهاؤ په اصطلاح کې د حیوان له هغې اضطراري وژنې څخه عبارت ده چې د ضربې پوسیله ترسره شي. د عقر او جرح په نامه سره یادیږي.

اسلامي فقهاؤ عقر په دوه ډولو ویشلی ده:

الف: د جرح په معنی.

ب: د حیوان پښو وهلو په معنی.

جرح: په لغوی معنی سره په عربي ژبه کې لـه یـوې اغېـزې او اثـر څخه عبارت ده چې د پوستکي پر مـخ پـاتې کیـږي[۲] او یـا د سـلاح پوسیله زخمي کېدو ته وایي، عربان وایي: جَرَحه يَجْرَحُه جَرْحاً أَثَّرَ فيه بالسلاح: هغه یې د سلاح پوسیله مجروح کړ[۳].

جرح په اصطلاح کې له هغه تېپ څخه عبارت ده چې حیوان ته د سلاح پوسیله ورکول کیږي.

که کله هم کوم کورنۍ ځاروی یـاغي شـي او د هغـې د کـابو کولـو توان ونلري نو د هغې د ذبح په اړه کولی شي چې د سلاح په فیر یا د کوم بل تېپي کوونکي ځیز پوسیله له لرې څخه وویشـتل شـي، خـو د تېپ اندازه باید دومره وي چې ځاروی پرې ووژل شي.

---

۱- هدایه شرح بدایه ۴۹۶/۹

۲- مفردات ألفاظ القرآن تالیف أبي القاسم الحسین بن محمد بن المفضل المعروف بالراغب الاصفهاني، دمشق: دار النشر / دار القلم (د-ت) ۱۷۶/۱.

۳- الموسوعة الفقهية الكويتية ۵۲۷۶/۲

امام ابی داوود له رافع بن خديج نه د حديث روايت کوي چې د مسلمانانو په يو سفر کې ترې اوښ ياغي شو او اس هم ورسره نه وو، چا په غشيوويشته او هغه ووژل شو، حضرت محمدﷺ وفرمايل: «إن لهذه البهائم اوابد كأوابد الوحش فما فعل منها هذا فافعلوا به مثل هذا» دا حيوانات لکه د وحشي حيواناتو په څير ياغي کيږي نو کله چې ياغي شو دې سړي په څير کړنه ورسره وکړی. دا حديث علامه ناصرالدين الباني سم ښوولی ده[1].

## د ذبيحې د پاکېدو شرائط

ددې لپاره چې د يو حلال څاروي غوښه د خوړلو لپاره پاکه او روا شي، علماؤ څه شرائط ايښي دي چې په لاندې ډول دي:

۱- د څاروي شرائط.

۲- د ذبح کوونکي شرائط.

۳- د تسميې شرائط.

٤- د ذبح د الې شرائط.

## ۱- د څاروي ځانګړتياوې (شرائط):

۱- سنن أبي داود، سليمان بن الأشعث أبو داود السجستاني الأزدي تحقيق محمد محيي الدين عبد الحميد، بيروت: دار الفكر حديث نمبر (۲۸۲۱)صحيح وضعيف سنن أبي داود تاليف محمد ناصر الدين الألباني ۳۲۱/٦

الف: د ذبحې پر وخت ژوندی وي: که چېرې د کوم څاروي روح مخکې له حلالولو څخه د څه شي پوسیله وتلی وي او وروسته ذبح کړل شي، غوښه یې حرامه ده.

﴿حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلۡمُنۡخَنِقَةُ وَٱلۡمَوۡقُوذَةُ وَٱلۡمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيۡتُمۡ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسۡتَقۡسِمُواْ بِٱلۡأَزۡلَٰمِۚ ذَٰلِكُمۡ فِسۡقٌۗ ٱلۡيَوۡمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِۚ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣﴾ [المائدة: ٣].

ژباړه: «پر تاسې حرامه کړای شوه مرداره، وینه، د خوږ غوښه، هغه څاروی چې له خدایه پراته د کوم بل چا په نوم ذبحه کړای شوی وي، هغه چې په ستوني خپه کېدو، په زخمي کېدو یا له لوړې نه په راغورځېدو مړ شوی وي یا کوم بل څاروي په ښکر وهلی وي مړشوی وي یا هغه چې کوم ځناور خیري کړی وي پرته له هغه چې تاسې هغه ژوندی موندلی او ذبحه کړی وي او هغه څاروی چې د کوم چا په دربار کې ذبحه کړای شوی وي همدارنګه دا هم ستاسې لپاره ناروا ده چې د فال پر غشو خپل اغبال وګوری دا ټول کارونه فسق دي. نن کافران ستاسې د دین له خوا پوره ناهیلي شویدي نو تاسې له هغو څخه مه ویریږی بلکې له ما څخه وویریږئ نن ما ستاسې دین ستاسې لپاره بشپړ کړیدی او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړیدی او ستاسې لپاره مې اسلام ستاسې د دین په توګه منظور کړیدی (لدې کبله د حلالو او حرامو کوم بندیزونه چې پرتاسې لګول شویدي د هغو مراعت وکړئ) البته څوک چې له لوږې نه اړ ووځي

او له هغو نه څه شی وخوري بې له دې چې د ګنا لور ته یې میلان وي نو بېشکه چې الله ښښونکی او رحم کوونکی ده».

ب: د حرم شريف د ښکار شوو څارويو څخه بايد نه وي: د حرم له ښکار ځيني هدف د هغه ځای وحشي څاروي او الوتونکي دي، خو اهلي څارويو او مرغانو ته ښکار نه ويل کيږي. ټول فقهاء پدې متفق دي چې د وچې څاروی ښکار کول په حرم کې ناروا دي[1]. خو د هغوی د غوښې د خوړلو په اړه بيا لږ اختلاف لري.

ج: ساه بايد ولري: که څوک يو څاروی حلال کړي خو د هغې ساه پخوا د برق، ګاز يا کوم بل څيز پوسيله وتلي وي نو د هغې غوښه خوړل ناروا ده.

**۲- د ذبح کوونکي ځانګړنې:**

الف: بايد عاقل وي.

ب: پر توحيد معتقد وي: مسلمان وي که اهل کتاب خو د الله پر يووالي ايمان ولري[2].

ج: محرم نه وي: علامه سرخسي وايي: که محرم کوم څيز ذبح کړ د هيچا لپاره د هغې خوړل روا نه دي، خو امام شافعي رحمه الله وايي چې يوائې د حلالوونکي لپاره ناروا او د نورو خلکو لپاره روا دي[3].

۱ـ الموسوعة الفقهية الكويتية ۲/۱۰۰۲٦

۲ـ المبسوط تاليف إِمَامُ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي سَهْلٍ السَّرَخْسِيُّ، بيروت: دار المعرفة (۱٤۱٤هـ ق)، ۵/۱٤٦

۳ـ الموسوعة الفقهية الكويتية ۲/۱۰۰۲٦

د: تسمیه: تسمیه یې باید زده وي او ووایي ځکه د تسمیې ویل د نص پر اساس شرط ده[۱]. که څوک تسمیه نه پوهیږي او یا یې قصداً ونه وایي د هغې ذبیحې غوښه حرامه ده. امام مرغیناني وایي: «والمسلم والکتابي فی ترك التسمیة سواء» مسلمان او اهل کتاب د تسمیې په پریښودلو کې مساوي دي. خو که د چا له یاد څخه ووځي او سهواً یې ونه وایي نو د امام ابوحنیفه او اما شافعي رحمهم الله په مذاهبو کې د نوموړې ذبیحې غوښه خوړل روا دي خو د امام مالک په نزد بیا ناروا ده[۲].

هـ: تسمیه یې زده او پر ذبح پوه وي که څه هم نابالغ ماشوم، متوسط لیونۍ او یا هم ښځه وي[۳].

و: د غیر الله نوم پرې نه وي اخستل شوی: د حلالولو له مهمو شرطونو څیني همدا ده چې باید د حلالولو پر وخت د غیرالله نوم وانخستل شي.

ز: باید څاروی د ستونې له مخې برخې څخه چې مری او شارګونه هلته ځای لري ذبح کړل شي.

**۳- د تسمیې شرائط:**

---

۱- هدایه شرح بدایه ۴۹۷/۹

۲- هدایه شرح بدایه ۴۹۹/۹

۳- هدایه شرح بدایه ۴۹۷/۹

الف: د اللهﷻ په نوم سره ذبح پيل شي لکه باسم الله، الله اکبر، او که سبحان الله او يا الحمدلله ووايي او هدف يې ترې تسميه وي نو هم ذبح سمه ده[١].

ب: د مخلوق نوم ورسره ګډ نه وي، لکه بسم الله و اسم فلان، بسم الله و فلان، بسم الله و محمد.

**۴- د ذبحې د الې ځانګړنې:**

د ذبحې په صحيح کېدو کې چې کومه اله استعمالېږي هغه دوه ځانګړنې بايد ولري:

لومړی: پرې کوونکی اوسي: ټول فقهاء پدې متفق دي چې د کومې الې پوسيله چې څاروی ذبح کيږي بايد پرې کوونکی وي، که له اوسپنې وي يا له کوم بل څيز پروا نه لري.

دويم: غاښ او يا نوک: له غاښ يا نوک څخه د خپله شخص ځينې هدف ده چې بايد نه وي او که د بل څيز وي پروا نه کوي.

## د څاروي د حلالولو اداب

١- چاړه بايد تېز وي.

٢- په پرې کولو کې بايد چټکتيا وشي ځکه څاروي ته پکې ستونزه کمه وي.

٣- ذبح کوونکی د قبلې پر لور مخ کړي او څاروی هم د قبلې پر لور څملوي.

٤- د څاروي له څملولو څخه پخوا بايد چاړه تېره کړي.

---

١- هدايه شرح بدايه ٥٠٢/٩

۵- څاروي په چپ لوري په ارامۍ سره څملول شي.
۶- حيوان اذيت نشي.
۷- د څاروي د ستوني د پاسه پښه کېښنودل شي.
۸- د پوستکي څخه وېښتان بېل کړي تر څو پوستکی ښه څرګند شي.
۹- حيوان څملول شي.
۱۰- پښې يې تړلې خو يوه ښي پښه يې بايد پرانستې وي تر څو يې ساه ختل ستونزمن نشي.
۱۱- چاړه په ښي لاس او د څاروي سر په کيڼ لاس ونيول شي.
۱۲- د حلاليدو ځای ته په ارامی سره يوړل شي.
۱۳- مخکې له حلالولو څخه ورته اوبه ورکړل شي.
۱۴- په ذبح کې مبالغه ونکړي، لکه مخکې له حلالولو څخه يې کوم هډ مات کړي.
۱۵- له سوړوالي او له پوره ساه ختلو وړاندې يې پوستکی ونه ايستل شي.
۱۶- له سوړوالي تر مخه يې کوم غړی پرې نشي.

## د څارويو او الوتونکو حلالول په نوي ډول

نن ورځ څاروي په نوي اساليبو حلاليږي، او لدې نوي سيستم څخه يې موخه چې په عصري وسايلو ولاړ ده دا ده چې په څارويو باندې له زيات ترحم نه کار واخستل شي، د بېلګې په توګه وړاندې لدې چې حلال شي نو بايد برقي شوک ورته ورکړل شي تر څو د حلالولو پر وخت بيهوشه وي او د حلالو درد و نه زغمي.

کومه طریقه چې اسلام او شریعت وړاندې کوي تر ټولو غوره طریقه ده ځکه چې په اسلامي نظام او قوانیو کې چې کوم حکمتونه نغښتي او پټ دي ښايي ډېر عصري وسایل او اکتشافاتو پوسیله څرګند نشي، کله چې زه د یو عربي هیواد لیبیا د دعوت په پوهنتون کې په زده کړه بوخت وم نو د فقې استاد مو یو پوه عالم و(۱)، له هغه څخه پدې اړه پوښتنه وشوه چې څاروي د حلالېدو پر وخت کومه ستونزه نه ویني؟ هغه په ځواب کې وویلې: لکه څنګه چې د یو تن کوم غړی چېرته په ټکر کې ماتیږي او یا هم ټپي کیږي خو تر هغه وخت چې ګرم وي درد نه کوي خو کله چې سوړ شو درد یې احساسوي، په همدې ډول کله چې ټکر وکړي تر ډېره وخته غلی وي او شاوخواته په حیرانتیا سره ګوري خو چې څه وخت یې تر منځ ووځي نو بیا یې اندامونه په درد پیل کوي. استاد وویلې: کله چې څاروی حلالیږي نو د الهی فضل او کرم سبب ده چې تر څو د هغه روح ووځي نو څاروی په ګرمه کې وي او په درد باندې په ځانګړي ډول نه پوهیږي.

په هر حال اوس چې په نړی کې د بیهوشی وسایلو چې مخکې له ذبحې حیوان ته ورکول کیږي راپیدا شوي دي نو اسلامي پوهانو هم پدې اړه څېړنې کړي، کولی شو دغه نوي کړنلارې چې د حلالولو لپاره ترې ګټه اخستل کیږي په لاندې ډول مطالعه کړو:

---

۱- علامه استاد سائح د لیبیا د الدعوة پوهنتون د فقه اسلامي او فقه مقارن یو تن استاد و چې په نوموړي پوهنتون کې زده کړه کوله . (باحث)

الـف: د څـارويو يـا مرغـانو لـه حلالولـو څخـه وړانـدې د بـرق استعمال: پدې اړه باندې د اسلامي نړی د اړيکو او نړيوال روغتيايي سازمان ګډه ناسته درلوده چې د ربيع الاول په مياشت ۱۴۰۶ هـ ق کال يا د ۱۹۸۵ م د ديسمبر پـه مياشـت کې پـه جـده کې شـوې وه، دغې ناستې په پايله کې ځينې توصـئې هـم درلـودې چې پـه ۴-۱-۳ ماده کې يې راغلي وو: د حيوان د حلالولو تر مخه هغه ته د ذبحې پر وخـت د راحـت کيـدو لپـاره برقـي شـوک ورکـول جـواز لـري، او يـو کميسون د فقهاؤ په ګډون وټاکل شو چې پايلې يې ارزيـابي کـړي او مطمئن شي[1].

له شرعي ذبحې څخه ترمخه برقي شوک کـولی شـو پـه دوه برخـو وويشو:

### ۱- څارويو ته شوک ورکول:

هغه څاروي چې د هغوی توانايي زياته ده لکه غوا، پسـه، اوښ... او کولای شي چې له هغه معين شوک څخه وروسته ژوندي پاتې شي او د حلالولـو وړ وي. د اسـلامي نـړی د اړيکـو کنفـرانس پـدې اړه داسې وويلې: د څـارويو بيهوشـه کـول د برقـي شـوک پوسـيله چې د ذبحې پر وخت هغوی ته د هوسـاينې لپـاره ورکـول کيـږي پـه لانـدې شرائطو جواز لري:

---

۱- احکام ذبح و ذبائح در اسلام تاليف کنفرانس رابطه عالم اسلامي و سازمان صحي جهان و کميتهء منتخبهء کنفرانس، ترجمهء نعمت الله شهراني، کابل: وزارت صحت عامه د.ا.ا با مساعدت مالي وتخنيکي سازمان صحي جهان نومبر ۲۰۰۲، ص: ۸

الف: د شوک تطبيق: د بريښنا د منفي او مثبت قطب تطبيقول په سترګو، غوږ او يا کومه بله برخه کې.

ب: د برق ولتاژ: د بريښنا اندازه بايد له ۱۰۰ څخه تر ۴۰۰ ولټو پورې وي.

ج: د برقي جريان شدت: د برقي جريان شدت د پسه، اوزې او غرڅه لپاره ۰/۱ څخه تر ۰/۷۵ پورې او د نورو څارويو لکه غوا، مېښه، اوښ او ددوي په څير نورو لپاره د برقي جريان شدت له ۲ څخه تر ۲/۵ امپير پورې ده.

تاسې پدې لاندې دوه انځورونو کې وينی چې مرغان د برق پوسيله داسې وژل کيږي چې دا طريقه يې شرعي نه ده.





د: د شوک وخت: د برق جريان بايد له دريو څخه تر شپږو ثانيو پورې وي[1].

۱- احکام ذبح و ذبائح در اسلام ص: ۹

**۲- الوتونکو ته شوک ورکول:**

دا چې د الوتونکو د بدن مقاومت د برق په مقابل کې ضعیف ده او نشي کولی له برقي شوک څخه وروسته ژوندی پاتې شي نو د اسلامي نړی د اړیکو کنفرانس پدې اړه داسې فیصله کړېده: (د الوتونکو لپاره د برقي شوک ورکول جواز نه لري او که کومه بله لاره ورته غوره کړای شي تر څو برق یواځې د هغوی په سر کې تېر شي ښه ده)[1].

د شوک ورکوونکې الې ډول: هغه الې چې پوسیله یې مرغانو ته شوک ورکول کیږي هم زیات ډولونه لري چې ځیني یې په هغوی کې روا او ځیني یې پکې ناروا وي.

۱- د بیهوشه کولو پر وخت د بر قي شوک اله مستقیمه اغیزه لري، چې (Electrodes) هم د نوموړو الو له ډلې څخه حسابیږي، نو ددې لپاره چې حیوان د بیهوشه کولو پر وخت و نه مري باید د شوک ورکولو الې په ستندرد حالت کې جوړې شي[2].

۲- وړاندې له استعمال څخه باید پرې څه تخنیکي تمرینونه اجراء شي تر څو له یو لوري د کارکوونکو ژوند وژغورل شي او له بلې خوا د څاروي غوښه د خوراک لپاره نامناسبه نشي.

---

۱- احکام ذبح و ذبائح در اسلام ص: ۱۰

۲- احکام ذبح و ذبائح در اسلام ص: ۹

۳- د تفنګچې پوسيله بيهوشه کول (Bolt Shot Pistol) د منلو وړ نده[۱].





تاسې پدې انځورکې څاروی وينی چې د هغه د ښکرو په منځ کې د تفنګچې پوسيله وژل کيږي چې دا سمه طريقه نه ده.

ب: له نورو وسايلو څخه ګټه اخستنه: په ځينو هيوادونو کې څاروي د نورو کيمياوي موادو پوسيله وژني چې پدې اړه د اسلامي نړی د اړيکو کنفرانس وويلې: «د کاربن دای اکسايد پوسيله د څارويو وژنه ناروا ده ځکه چې دا کړنه او د خفه کولو کړنه کوم توپير پخپل منځ کې نلري»[۲].

---

۱- احکام ذبح و ذبائح در اسلام ص: ۹

۲- احکام ذبح و ذبائح در اسلام ص: ۹

## دويم بحث:
## وارداتي غوښې

### له اسلامي هيوادونو څخه راوړل شوې غوښې

دا چې يو مسلمان بايد نېک نظر ولري او د بل مسلمان ورور اړوند له ګمان څخه ځان وساتي، نو له همدې امله هغه غوښې چې له اسلامي هيوادونو څخه راوړل کيږي حلالې دي او د هغې خوړل کوم باک نلري.

استاد سيد سابق رحمه الله وايي: هو! کله چې مسلمانان په يوه هېواد کې زيات وو نو د هغه هيواد د ذبيحو خوړل هم روا دي[1].

خو يوه خبره شته ده هغه دا چې اوس وخت کې ځينې داسې هيوادونه هم شته دي چې د هغوی په مسلخونو (د حلالې په ځايونو) کې څرګند د لويديځوالو تګلارې او قوانين عملي کيږي نو کله چې ددغسې هيوادونو په هکله پوره معلومات شته وي او پدې پوه وي چې هلته قصداً د الله له نوم پرته د حلالولو پر وخت پر څاروي کوم بل نوم اخستل کيږي نو د هغې غوښه خوړل ناروا دي.

امام اعظم (ابوحنيفه) رحمه الله د مالکيانو او حنبليانو سره په توافق کې پدې اند دي چې که څوک په قصدي ډول د ذبحې پر وخت دالله نوم ذکر نکړي نو د هغې ذبيحې غوښه خوړل حرام دي ځکه الله جل جلاله

---

۱- فقه السنة تاليف السيد سابق، پشاور: قصه خواني (دط ) (دت) ۳/۲۹۰ .

فرمايي: ﴿وَلَا تَأۡكُلُواْ مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ﴾ [الأنعام: ۱۲۱] «تاسې هغه څيزونه چې د الله نوم پرې نه ده اخستل شوی مه خوری»[1].

## له غير اسلامي هيوادونو څخه راوړل شوې غوښې

غير اسلامي هيوادونه کولای شو په درې اساسي برخو وويشو:

۱- د اهل کتابو هيوادونه.

۲- هغه هيوادونه چې اهل کتاب نه دي.

۳- ګډ (اهل کتاب او غير اهل کتاب).

### د اهل کتابو هيوادونه

پدې بحث کې په دوو ټکو څېړنه کوو:

لومړی: د اهل کتابو پوسيله د حلال شويو ښارويو د غوښو خوړل.

دويم: نني امريکايي او اروپايي هيوادونه ريښتيني اهل کتاب دي؟ ترڅو ورسره د اهل کتابو په څېر کړنه وشي؟

#### لومړی ټکی: د اهل کتابو پوسيله د حلال شويو ښارويو د غوښې خوړلو حکم

د اسلامي شريعت له مخې د هغه ښارويو غوښه چې د اهل کتابو پوسيله حلال شوي روا ده. اللهﷻ فرمايي: ﴿ٱلۡيَوۡمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حِلّٞ لَّكُمۡ وَطَعَامُكُمۡ حِلّٞ لَّهُمۡۖ﴾ [المائدة: ٥] «نن ورځ پاک څيزونه تاسې ته حلال کړل شوي دي او د هغو خلکو خواړه چې اهل کتاب دي تاسې ته حلال او ستاسې خواړه هغوی ته حلال دي».

---

۱- الموسوعة الفقهية الكويتية /۱٤۱٦

ددې آيت شريف له مخې هغه ښاروي چې کوم يهودي او يا هم نصراني چې په خپل کتاب يې کلک ايمان وي حلال کړي وي روا دي.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِي اللهَّ عَنْهَا: أَنَّ قَوْمًا قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهَّ، إِنَّ قَوْمًا يَأْتُونَنَا بِاللَّحْمِ لا نَدْرِي أَذَكَرُوا اسْمَ اللهَّ عَلَيْهِ أَمْ لا، فَقَالَ رَسُولُ اللهَّ صلى الله عليه وسلم: «سَمُّوا اللهَّ عَلَيْهِ وَكُلُوهُ»[1].

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت ده چې يوې ډلې خلکو وويلې: ای د خدای رسوله! ځينې خلک مونږه ته غوښه راوړي او مونږه ترې خبر نه يو چې دوی پرې د ذبحې پر وخت (بسم الله) ويلې ده او که نه؟ حضرت محمد ﷺ وويلې: بسم الله ووايی او ويې خوری.

دا په هغه صورت کې ده چې اهل کتابو به د حلالې پر وخت بسم الله ويلي وي او که نه؟ پداسې وخت کې ستونزه رامنځ ته کيږي ځکه چې هر وخت خو څيړنه نشي کيدای چې پدې غوښه يې نوم اخستی ده او که يه؟ او يايې د حلالولو پر وخت ورسره واوسې، خو که څوک پوه شي چې د ذبحې پر وخت يې د الله نوم نه ده اخستی بلکې د عيسی، مسيح، مريم... نوم يې اخستی نو ددې غوښې خوړل ورته ناروا ده.

امام سرخسي پدې اړه وايي: که مسلمان له اهل کتاب څخه واوري چې د حلالولو پر مهال يې د مسيح او يا کوم بل چا نوم پر ذبيحې اخستی ده نو نوموړې غوښه داسې ورته حراميږي لکه کوم

---

۱- صحيح البخاري تاليف محمد بن إسماعيل البخاري، بيروت: دار ابن کثير، ط۲، ۱٤۰۷ – ۱۹۸۷ حديث نمبر ۲۰۵۷

مسلمان شخص ته چې د الله د نوم نه اخستلو په صورت کې کومه غوښه حراميږي، دا ځکه چې د يهودي حالت خو له مسلمان څخه ښه کېدای نشي[1].

د اهل کتابو د ذبيحو د غوښو خوړلو لپاره پوهانو دوه اساسي شرطونه بيان کړيدي:

لومړی: غوښه بايد د داسې څاروي نه وي چې د هغې غوښه په اسلام کې حرامه ګڼل شوي وي.

دويم: په شرعي طريقه حلال شوي وي.

لومړی شرط: لکه څنګه چې څرګنده ده اهل کتاب ځينې غوښې لکه د خوګ... چې په اسلام مبارک دين کې ورته حرام ويل شوي دي هم استعمالوي نو مسلمان بايد د غوښې اخستلو پر وخت هيښ اوسي چې ددغو څارويو غوښه ونه پيري، ځکه هغه غوښه چې د مسلمان لپاره يې خوړل حرام بيان شوي دي که د مسلمان يا اهل کتاب پوسيله تهيه شي حرامه ده.

دويم شرط: که کوم مسلمان ته څرګنده شي چې د اهل کتابو پوسيله چې کوم څاروی حلال شوی ده د هغې ذبح په اسلامي طريقه نده شوې نو ددغسې څاروي غوښه خوړل ورته ناروا دي، همدغه حکم د مسلمان په برخه کې هم ده ځکه که مسلمان هم ذبح د اسلامي شريعت د اصولو په رڼا کې ونکړي نو د ذبيحې غوښه يې حرامه ده.

---

۱- المبسوط ۱۱۰/۱٤

د رد المحتار ملا وايي: که څوک په هر اسماني دين عقيده ولري او کتاب يا صحيفې ولري لکه د ابراهيم، شيث، او يا د داؤد عليه السلام زبور نو دغسې خلکو ته هم اهل کتاب ويل کيږي او ددوی ذبيحه او ورسره نکاح کول حلال دي[1].

**دويم ټکی: ايا نني امريکايي او اروپايي هيوادونه اهل کتاب دي؟**

نني ستونزه چې ددغو هيوادونو د راوړل شويو غوښو په اړه پيدا کيږي همدلته ده چې ايا دوی ته اهل کتاب ويل کيږي او که نه؟ زمونږ د هيواد ډېر علماء پدې اند دي چې دوی ته هم اهل کتاب ويل کيږي او نکاح يا د هغوی ذبيحه روا ده.

خو هغه علماء او پوهان چې دغو هيوادونو ته له نژدې څخه تللي دي او يا يې هم له سياسي لوري څخه پيژني نظر يې د پورته علماؤ سره ډېر توپير لري چې اوسنی اروپا ته هم د منځنيو پيړيو د اروپا په سترګه ګوري.

ددې مهم بحث د پوهېدو لپاره اړينه ده چې موضوع په لاندې ټکو کې مطالعه کړو:

لومړی: د امريکايي او اروپايي هيوادونو سياسي موقف.

دويم: د نويو اساليبو اختراع او جوړښت.

دريم: د ښارويو د حقوقو ټولنې.

څلورم: د هغو کسانو اندونه چې دا هيوادونه يې له نژدې څخه ليدلي دي.

1- رد المحتارعلي الدر المختار، لمحمد امين الشهير بابن عابدين (ت ۱۲۵۲هـ ق)، عمان: المكتبة الاسلامية، ط۱، (۱٤۲۱هـ ق)، ۳۱۰/۹

**لومړی: د اروپایي او امریکایي هیوادونو سیاسي موقف**

په منځنیو پېړیو کې په یادو هیوادونو کې کلیسایي نظام وو چې ټول قوانین او احکام به یې د کلیسا په امر سره ترسره کېدل، او د ځارویو د حلالولو اړوند به یې هم له کلیسا څخه قوانین اخستل، نو هماغه وو چې په نوموړي وخت کې علماؤ هم یاد هیوادونه اهل کتاب وشمېرل او له هغوی سره یې د اهل کتابو په څېر معامله وکړه.

خو د فرانسې له انقلاب او د دیموکراسی له اعلان نه وروسته دغه هېوادونه په سیکولر هیوادونو باندې بدل شو، په دولتي او سیاسي ادارو کې یې دیني نفوذ په پوره توګه له لمنځه ولاړ او د قوانینو او تګلارو جوړولو کې ازاد پرېښودل شو.

د (الدعوة) مجله چې له سعودي څخه خپرېږي، په ۶۷۶ ګڼه کې چې د ۱۳۹۸ هـ کال د ذی الحجې په ۲۷ مه نېټه خپره شوه د (معلومات عن الدجاج المستورد = د وارداتي مرغانو په اړه معلومات) تر عنوان لاندې داسې راښکلې وو:

په لویدیځو هیوادنو کې دیني ضد ډلې زیاتې شوي دي، کمونیزم چې د الله وجود له سره نه مني هلته زیات خپور شوی ده، هغه څوک چې خواړه یې مونږ ته حلال دي ډېر کم پیدا کیږي یعنې دغه کسان چې په نصرانیت یا یهودیت عقیده لري د رجال الدین په نامه یې یادوي او شمېر یې ډېر لږ ده، هغوی له ذبحې څخه ډېر لرې دي، ځکه لوړپوړي چارواکې دغه کارونه په غاړه لري او د ذبح کولو کار

يې د ځوانانو يوې داسې ډلې ته سپارلی ده چې هغوی کوم دين ته هېڅ تمايل نلري او دهريان شمېرل کيږي[۱].

نو! کوم هيوادونه چې دا ډول سياسی حالت ولري دا طبيعي خبره ده چې د هغه هيواد مسلخونه هم د ديموکراسی په چوکاټ کې جوړ شوي وي او دين ته کومه ځانګړې پاملرنه نلري. دغه زيات لويديځوال هيوادونه په خپلو تګلارو کې ديني لوری نه لري ځکه ددوی قوانين د پارلمان پوسيله جوړيږي نو په پارلمان کې هغه خلک مېشت وي چې بې دينه وي.

**دويم مطلب: د څارويو ذبح کولو نوي اساليب:**

د دغو هيوادونو نوي قوانين او زياتره د څارويو د حقوقو اورګانونه چې ذبح کول د هغوی په برخه کې يو ډول زياتی بولي وايي چې بايد څاروي يا الوتونکي د ګاز، تفنګچې او يا هم برقي شوک پوسيله ووژل شي.

په ځينو هيوادونو کې د مرغانو د حلالولو ځای د ډنډونو په څېر وي چې لومړی مرغان هلته بنکته کوي وروسته د ډنډ اوبو کې د برق جريان تيروي او پدې ډول يې وژني.

---

۱- البحوث العلمية تاليف هيئة كبار العلماء بالمملكة العربية السعودية، الرياض: رئاسة إدارة البحوث العلمية والإفتاء، (١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٤ م ) ٢/ ٧٠٢

 

په تيرو بحثونو کې مو د اسلامي علماؤ فتواوې ولوستې چې د مرغانو د بدن مقاومت د برقي شوک په مقابل کې لږ ده نو که چېرې له شوک وروسته حلال هم شي د هغوی غوښه حرامه ده.

شيخ عبد الله بن علي الغضيه د عربستان د قصيم د سيمې د بحث او افتاء د رياست مشر له لندن څخه په يوه ليدنه کې له ياد ځايه د راوړونکو غوښو په اړه يوه ليکنه کړې چې خورا ګټوره ده:

هيواد ته د راوړونکو غوښو په اړه مې وغوښتل چې يې د حلالولو ډول وګورم، د فارم مدير سره مې خبره شريکه کړه او ورته مې وويلې چې غواړم په عربستان کې د مرغانو يو فارم ولرم، هغه راته له ځنډ پرته يو کتلاک مخې ته کېښوده او د حلالولو د ډول په تشريح يې شروع وکړه، ما ترې وپوښتل چې تاسې کوم مرغان تيار وی د هغوی سرونه نه پرې کوی؟ په ځواب کې يې وويلې: سر يې ولې پرې کړو؟ ما ورته په ځواب کې و ويلې چې مونږه خو په منځني ختيځ کې د مرغانو سرونه نه خورو.

نوموړی شيخ د مسلخ د ننه تللی چې له هغه ځای څخه يې خپل د سترګو ليدلی حال داسې ليکلی دی:

هغوی مرغان له پښو څخه ځوړند کړي وو، یوه دایروي اله هلته شته وه چې منځ یې پرانستل کېده، پدغې الې لیکلي وو (د ګنس کولو له لیارې وژنه)، دا اله پرانستل کېده او د چرګ سر پکې ورکول کېده بیا به د الې له لور پر چرګ په ډېر فشار سره هوا ورکول کېده له لږ ځنډه وروسته به چرګ د مرګ انتظار وېسته. وروسته یو ماشین کې اچول کېده چې که به یې پر بدن د وینې کوم داغ پاتې و نو لرې کوه یې، تر دې وروسته به یې بل ماشین ته واچوه چې په هغې کې به ګرمې اوبه وې، دلته به که چرګ وژل شوی هم نه وو نو ساه به یې وتله، وروسته به یې بڼکې ترې ویستل کېدې او پاکېدل به، پای کې یې پلاستیکونو کې اچول او په کارتنونو کې چې د پاسه به پرې لیکل شوي وو (ذبح على الطريقة الاسلاميه) بندېده. دغه وړوکي شرکت په یوه ساعت کې ۲۰۰۰ مرغان تولیدول. اللهﷻ مونږه ته د خپلو حلالو څخه راپه برخه کړي او رب دې ټول بشریت اصلاح کړي، وصلى الله على نبينا محمد، واله وصحبه وسلم[(۱)].

په یو بل راپور کې د سعودي د علمي څېړنو د مرکز مشر شیخ حسن عبدالغفار په لندن کې یوه څېړنه کړېده چې لنډیز یې په لاندې توګه ده:

زما د لیدنو په اساس او د کویت د (المجتمع) مجلې د ۴۱۴ ګڼې چې د ۱۳۹۸ کال د ذی القعدې د میاشتې په لومړی نېټه خپره شوه، په لندن کې د ښارویو د ناسمې وژنې او په اړه یې د طبي ډاکټرانو منفي اندونه وړاندې کوي.

---

۱- البحوث العلمية جزء ۲، صفحه: ۷۰۱

لومړی: د غويانو او پسونو ذبح: غوا او پسه يو ځانګړي ځای ته راوړي هلته ورته يو موظف کس د قيچي په څېر يوه اله د ښاروي په سر بږدي او ورته تر هغې برق ورکوي تر څو ښاروی خپل حواس له لاسه ورکړي او پر ځمکه وغورځي، بيا د يو ماشين پوسيله هغه ځوړندوي او وروسته يې قصاب حلالوي، د خپلو محلي مصارفو لپاره مسلمان قصاب ځان سره نيسي[1]. خو که قصاب مسلمان نه وي نو بيا چاړه د ښاروي په ستوني ننباسي او له بلې خوا څخه يې وباسي تر څو وينه ترې راووځي.

دويم: د الوتونکو (مرغانو) ذبح: لومړی د برق پوسيله بيهوشه کيږي، بيا وروسته د چاړه پوسيله يې ستونی پرې کوي تر څو ترې وينه ووځي او پاک کې يې پاکوي.

يادو کړنلارو ته يوه کتنه:

۱- اروپايي هيوادونو دا کړنلارې پر ښارويو د رحم لپاره رامنځ ته کړي دي خو اصلاً دا ددې لپاره دي چې دوی ښه تجارت وکړی شي او زياتې پيسې په کم وخت کې لاسته راوړي.

۲- د طب ډاکټرانو هم پدې اړه څېړنې کړي، د برتانيې د مسلمانو ډاکټرانو مشر غلام مصطفی خان، او د برمنګهام جامع مسجد د وقف رئيس محمد نسيم په خپلو کتابونو کې داسې ليکلي دي:

الف: پدې ډول د ښاروي بيهوشه کولو پايله کې ښاروی جسمي او قلبي په تکليف کيږي چې وينه يې په پوره ډول نه راوځي، او دا خو

---

۱- البحوث العلمية جزء ۲، صفحه: ۷۱۵

ځرګنده ده چې د هغه ښاروي چې وینه یې پوره وتلي وي له هغه ښاروي سره چې وینه یې پوره نه وي وتلي خورا زیات توپیر لري[۱].

ب: برقي شوک ډېر ځله په یو ډول نه رامنځ ته کیږي بلکه ځیني وخت همدغه شوک د ښاروي د فلج کېدو سبب هم کیږي، له همدې امله ښاروی د زیات درد احساس کوي، داسې هم کېدای شي چې د زیات برقي شوک په پایله کې ښاروی مردار شي نو د هغې غوښه خوړل خو بیا ځرګنده خبره ده چې ناروا دي.

ج: د مسلمانانو د ذبحې طریقه د ښاروي لپاره ډېره په راحت تمامیږي ځکه طب وایي چې زیات درد د پوستکي لاندې عصبونو پوسیله احساسیږي نو کله چې چاړه تېز وي او په چالاکی سره نوموړي عصبونه پرې شي په هماغه اندازه ښاروی ارامه وي، همدارنګه چې د ښاروي زړه روغ وي او خپل حواس یې له لاسه نه وي ورکړي د وینې په ایستلو کې مهم رول لوبوي[۲].

دکتور محمد طباع د ریاض ښار د (الدعوة) مجله کې د ۱۳۹۸ هـ ق کال د ذی القعدې د میاشتې ۲۱مه نېټه په (۶۷۳) مه ګڼه کې د (تر څو حرام ونخورو) عنوان لاندې یوه لیکنه کړېده چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! وبعد: د الدعوة د ۱۳۹۸ کال د شوال ۹ مې نېټې ۶۶۷ مې ګڼې کې چې عبدالرحمن محمد اسماعیل

---

۱- البحوث العمیة، جزء: ۲، صفحهء: ۷۱۷)

۲- البحوث العمیة، جزء: ۲، صفحهء: ۷۱٦)

د تر څو حرام ونخورو عنوان لاندې کومه لیکنه کړې وه غواړم داسې توضیح کړم:

زه یو وترنر ډاکټر یم چې په لویدیځ المان کې مې زده کړې کړي دي، د زده کړو په لومړي مهال کې د غوښې د خوړلو اړوند یو لړ ستونزو سره لاس او ګریوان شو چې د څېړنې او زیاتو څرګندونو لپاره له ملګرو سره یو ځای د هانوفر ښار ته ولاړو، هلته مو قصابان ولیدل چې په ټولیز ډول یې څاروي ټول کړي دي او د یوې ځانګړې تفنګچې پوسیله پرې فیر کوي، کله چې ټول څاروي ځمکې ته راولویدل نو قصابان د شل دقیقو په اندازه له استراحت کولو وروسته یاد څاروي له پښو ځوړندوي او سرونه یې پرې کوي، د حلالولو پر وخت چې کله مونږه پام وکړ نو ټول څاروي مړه شوي وو چې د هغوی غوښه په اسلام کې حرامه ده، مونږه ددې صحنې کیسې خپلو زده کړیالیو ملګرو ته وکړې خو متاسفانه چې هغوی د خوګ د غوښې په خوړلو کې کوم باک نه درلود نو د حرامو او حلالو په اړه به یې څه کړی وای[1].

دریم: د څارویو د حقوقو ټولنې:

د العربیي تلویزیوني چینل چې په عربي ژبه خپرونې کوي، په لندن کې د حلالو غوښو په اړه یو ځانګړی پروګرام درلود، هغوی له ډېرو غوښو پلورونکی سره خبرې وکړې چې د هغوی د خرڅلاو پر غوښو حلال لیکل شوي و، هر پلورونکي پردې تینګار کوه چې دا غوښې حلالې دي خو کله به چې ترې د دلیل غوښتنه وشوه نو

---

۱- (البحوث العلمیة جزء : ۲، صفحه: ۷۲۱)

هغوی به په ترخ کې وویلې چې هر شرکت د خپلو مالونو پر سر حلال لیکي خو له زیاتې څېړنې وروسته څرګنده شوه چې نوموړې غوښې حرامې وې.

پایله کې یو پلورونکي وویلې: حلاله غوښه په لندن کې ډېره کمه پیدا کیږي او که پیدا هم شي نو بیه یې ډېره لوړه وي د بېلګې په توګه که عادي غوښه په لس پونډه اخلې نو همدومره حلاله غوښه په پنځلس پونډو تماميږي. د العربيې چینل خبریال له پلټنو وروسته وتوانېده چې د حلالو غوښو پلورنځی پیدا کړي، پلورونکي ورته ویلي و چې دا غوښه واقعاً حلاله ده او د شرکت د موندلو په هکله یې ورته لارښوونه وکړه، خبریال چې کله شرکت وموند نو رښتیانی چې یو مسلمان قصاب هلته څاروي په اسلامي طریقه ذبح کول، هغه د یاد شرکت له یو مسئول سره مرکه وکړه او ترې یې وپوښتل چې په لندن کې حلالو غوښو ته د مسلمانانو لاسرسی څه ډول دی نوموړي په ځواب کې وویلې: مونږه د سمو مسلمانانو په غوښتنه دغه شرکت رغولی ده، هغه مسلمانان وروڼه چې واقعاً تقوا لري او غواړي په خوراک او پوښاک کې یې اسلامي احکام مراعت شي نو دلته راځي او له مونږه ځینې غوښه پیري چې مونږه هم د هغوی لپاره په پرانستو مټو خدمت کوو.

بیا یې ترې وپوښتل: ایا دغه غوښه خلکو ته په اسانۍ سره لاس ته ورتللی شي؟

- د شرکت خاوند په ځواب کې وویلې: نن سبا خلکو کې چل او فریب زیات شوی ده، خلکو باندې د حلالو پر نامه حرامه غوښه پلوري، یوائې څو ورقې کاغذ پرېنځوي او پرې حلال

ليکي خو هغه مسلمانان وروڼه چې دلته په لندن کې مېشت دي اوس زمونږه له شرکت سره اشنا شوي دي او زمونږه له نمايندګيو څخه يې پېري، زمونږ او د هغوی د غوښې د بيې تر منځ توپير هم پدې خاطر ده چې مونږه مسلمانانو قصابانو ته چې لږ پيدا کيږي اړتيا لرو او همدارنګه زمونږ وسايل داسې دي چې اسلامي احکام پرې تطبيقيږي نو ځکه لږ څه په بيه کې لوړه ده.

ژورناليست وپوښتل: آيا تاسې هم داسې ستونزې لری چې ستاسې د کارونو مخه ونيسي او يا تاسې په عادي ډول مسلمانانو ته غوښه رسوی؟

- ځواب: مونږه له ډېرو هڅو وروسته وتوانېدو چې له حکومت څخه د خپل د شرکت لپاره امر واخلو خو مونږه ته زياته ستونزه د څارويو د حقوقو د کمېټې لخوا راولاړيږي، هغوی هر وخت زمونږ پر ضد مظاهرې کوي او مونږه له څارويو سره په زياتي باندې تورن کوي، تل د زنده باد او مرده باد چيغې وهي.

پوښتنه: د څارويو د حقوقو د ټولنې ستونزه څه شی ده؟

- ځواب: هغوی وايي چې د څارويو د حقوقو قانون څه مادې لري چې تاسې ترې سرغړونه کوی:

## د څارويو د حقوقو نړيواله بيانيه

لومړی ماده: ټول څاروي د ژوند کولو لپاره مساوي حقوق لري او کوم ځانګړی حيوان لدې حق څخه مستثنی کيدای نشي.

دویمه ماده: د ټولو څارویو د ژوند کولو حق ته باید درناوی وشي.

دریمه ماده:

الف: څاروي باید د بدو کړنو او بېرحمانه اعمالو ښکار نشي.

ب: که د څارویو وژلو ته اړتیا پیښه شي نو باید دا کړنه د هغوی له زورولو پرته په ارام ډول ترسره شي.

ج: د حیوان له جسد سره باید سمه کړنه وشي.

څلورمه ماده:

الف: وحشي څاروي د ژوند کولو او زېږولو خپلواکه حق لري چې په طبیعې محیط او خپلو هستوګنځیو کې یې کولی شي.

ب: تر اوږدې مودې پورې د وحشي څارویو وژنه، د ماهیانو ښکار او نورې داسې کړنې چې حیاتي لوری ونلري سخت د غندلو وړ دي.

پنځمه ماده:

الف: هر څوک چې کوم څاروی ساتي باید سمه پالنه یې وکړي.

ب: که چا کوم څاروی ساتلی وي نو د هغې خپلسري پرېښودل او یا وژل د غندلو وړ دي.

ج: د څارویو د نسل زیاتوالی او له هغوی نه ګټه اخستنه باید د فیزیولوژي ځانګړي جوړښت په پام کې نیول سره ترسره شي.

د: په نمایشونو، فلمونو او نور ځایونو کې چې حیوانات پکې برخه لري باید هغوی ته ځانګړی درناوی وشي او له هر ډول زور زیاتي څخه لرې وي.

شپږمه ماده:

الف: په څارویو باندې فزیکي او یا روحي ازمېښتونه او تجربې د څارویو پر حقوقو زیاتی ګڼل کیږي.

ب: د هغوی د اوسېدو ځایونه باید پرمختللې وي او قانوني جوړ شي.

اومه ماده:

هر هغه غیر ضروري کړنه چې د څاروي د مړیني سبب شي او یا کومه بله داسې پرېکړه چې د څارویو پر ژوند اغېزه پرېږدي د جنایت او زیاتي معنی لري.

اتمه ماده:

الف: د وحشي څارویو د بچیو او یا د هغوی د زېږېدو د مخنیوي لپاره هره کړنه د ډله ایزې وژنې په معنی ده.

ب: د وحشي څارویو وژنه او د هغوی د اوسېدنې د ځایونه لمنځه وړل په عامه وژنه کې شمېرل کیږي.

نهمه ماده:

الف: د څارویو حقوق او ځانګړي قوانین د عامه قانون په وسیله غوره او جوړیږي.

ب: د څارویو امنیت او ساتنه پر دولتي ځواکونو پورې اړه لري.

لسمه ماده:

د زده کړو ځايونو او ښوونځيو پر غاړه ده چې د خپلو زده کوونکو او ښاريانو لپاره د څارويو د درناوي په اړه لازمې لارښوونې وکړي[۱].

ژورناليست: په پورتنيو موادو کې کومه ماده ستاسې د شرکت پر ضد حسابوي؟

- ځواب: هغوی فکر کوي او وايي چې د چاړه پوسيله د څاروي وژنه د هغوی په هکله ظلم او زياتی ده او د هغوی په اند بايد له برقي شوک او يا کومې بلې نه زورونکې لارې څخه کار واخستل شي.

نو له همدې امله زياتو هيوادونو د څارويو په حق کې د چاړه استعمال زياتی بولي چې د اروپا د اتحاديې غړو په ترکيې باندې د نيوکو په لړ کې يوه همدا وکړه چې دوی خپل اولس ته د لوی اختر په ورځو کې اجازه ورکوي تر څو څاروي د چاړه پوسيله حلال کړي، نو که ترکيه د اروپا په اتحاديه کې غړيتوب غواړي نو له پخوا څخه بايد نړيوال تړونونه په ځان باندې ومني.

څلورم: د لويديځو هيوادونو تګلارې:

نن په اروپا او امريکا کې چې کوم قوانين وضع شوي دي په پوره ډول د اهل کتابو له قوانينو سره په ټکر کې دي، د کتاب د خاوندانو

---

۱- د څارويو د حقوقو نړيواله بيانيه د يونسکو په مرکزي شورا کې رسماً د ۱۹۷۸ کال اکتوبر مياشت کې د پاريس په ښار کې اعلان شوه، ددې بيانيې مواد په ۱۹۸۹ کال د د څارويو د حقوقو نړيوالې کميټې پوسيله تجديد شو، په ۱۹۹۰ کال د يونسکو د ټولنې رئيس ته وسپارل شو او په همدې کال خپور شو.

په نزد چې کوم شیان لکه زنا، شراب، قمار...حرام دي دوی یې باک نه ګڼي او په خپلو قوانینو کې یې ورته اجازه ورکړې ده. نو ویلی شو هغه چا چې دا هیوادونه یې له نژدې څخه څارلي دي د هغوی په اند دا هیوادونه د کتاب د خاوندانو په کتار کې شمېرل یو لوی جرم ده.

د ۱۳۹۸ هـ ق کال د ذي القعدې د میاشتې په په لومړی نېټه د کویت د المجتمع مجلې په ۴۱۴ مې ګڼې د (په ډنمارک کې د مرغانو غوښې) تر نوم لاندې د مسلمانانو ځوانانو د ټولنې څخه یوه لیکنه خپره کړه:

له زیاتې څېړنې وروسته د ډنمارک هیواد رسمي مراجعو څخه مو تر لاسه کړل چې قادیانیان له ۱۹۶۷م کال څخه راپدېخوا ځان د اسلام د دین پیرو ثابتوي او خلکو ته د غوښو د خرڅولو په برخه کې د پیسو په بدل کې تصدیق پاڼې ورکوي همدارنګه پوه شو چې کوم اسلامي هیوادونه چې دلته سفارتونه لري هغوی ټول د خپلو رهبریو لپاره ګټې رسوي او د اسلام په کیسه کې ندي، یعنې زیاته مخه یې دیپلوماسي پروګرامونو او محافلو په لور ده.

راته څرګنده شوه چې زیات خلک له چل او فریب څخه کار اخلي، ځینې یې د قرانکریم کیستې اخلي او په مسلخونو کې یې په لوړ اواز سره غږوي چې مسلمانانو ته دا وښیې تر څو دوی مسلمانان دي او ترې غوښه وپیري او یا هم ځینې د نوم لپاره په خپل فارم کې ځینې مسلمان کارکوونکي ګماري چې هغوی په حلالولو او قصابی کې هیڅ ونډه نه لري[1].

۱ - البحوث العمیة، جزء: ۲، صفحهء: ۷۲۳

دا چې مسلمانان نن له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي نو نشي کولی دې ستونزو ته یې پام راوګرځي، او حتی ځیني خو قصداً دغه غوښې د مسلمانانو په منځ کې دود کوي او دلیل یې همدا وي چې دا غوښې د اهل کتابو له هیوادونو څخه راوړل کیږي، زمونږ په اند دا غوښې په هېڅ ډول مونږه نه اخلو او دا هیوادونه په اهل کتابو کې نه شمېرو ځکه هغه څوک چې زنا، شراب، قمار، ډمتوب... روا ګڼي نو هغوی ته څنګه اهل کتاب وویل شي؟ دوی خو ملحدانو او بت پالونکو ته ورته دي نه اهل کتابو ته.

نو مونږه د ډنمارک د مسلمانانو د ټولنې له لوري دا اعلانوو چې کومې غوښې چې لدې هیواد څخه اسلامي هیوادونو ته صادریږي کومه ځانګړې او اسلامي طریقه باندې نه ذبح کیږي بلکه د نورو هیوادونو په څېر یې بېهوشه کوي وروسته یې سر ترې پرېکوي، توپیر همدومره ده چې په پاکټونو او پوښونو ورته لیکي چې په اسلامي طریقه باندې حلال شوي دي[1].

پنځم: د هغه خلکو اندونه چې دا هیوادونه یې له نژدې څارلي:

زمونږ ډیری مسلمان ورونه چې امریکایي او اروپایي هیوادونو ته ځي نو په پیل کې پدې اند چې دا هیوادونه اهل کتاب دي غوښې یې خوري، خو له څه مودې تېرولو وروسته ورته څرګندیږي چې کومې غوښې په هوټلونو کې پخښیږي په هغه مسلخونو کې حلال شوي وي چې د هېڅ دیني قانون مراعت پکې نه کیږي، دوی یې له خوړلو څخه بېرته منصرف کیږي ځکه هلته چې کوم مېشت مسلمانان ویني

١ - البحوث العمیة، جزء: ٢، صفحهء: ٧٢٧

نو ورته څرګندیږي چې هغوی لدې غوښو څخه استفاده نه کوي، ځکه دا څرګنده نه وي چې دا څاروي کوم قصاب حلال کړي، هغه دین لري او که نه، او که دین لري نو دین یې څه شی ده؟؟

په همدې ډول دوی ته څرګندیږي چې په نوموړو مسلخونو کې د ذبح کولو طریقه کومه شرعي او روا طریقه نه ده نو دا خوراکونه پریږدي او له هغو غوښو څخه ګټه اخلي چې په ځانګړي ډول مسلمانانو د مسلمانانو لپاره جوړ کړیدي.

یو استاد وایي: زه چې کله له خپلو ملګرو سره امریکا ته ولاړم نو اوله کې په همدې فکر کې وم چې دوی اهل کتاب دي او ددوی خواړه او ذبیحه زمونږ لپاره حلاله ده، خو د څو ورځو له تېرولو وروسته راته څرګنده شوه چې میشت مسلمانان دا غوښه نه خوري له څېړنې وروسته پوه شوم چې د هغه ځای فارمونو کې چې کوم قصابان کار کوي ډېر داسې خلک دي چې هېڅ دین نه پېژني او همدارنګه د حلالولو اسلوب او طریقې یې هم اسلامي او شرعي نه دي ځکه د شرکتونو خاوندان دین ته کومه پاملرنه نه کوي بلکه چې په لاس کې چې هر څه ولري او هره وسیله وي خو ترې ګټه اخلي. مونږه هلته د مسلمانانو لپاره یوه قصابي وموندله چې غوښه یې نسبتاً قیمته وه خو حلاله وه، هماغه به مو اخسته او خپله به مو پخښوله.

یو بل تن چې له امریکا څخه یې لیدنه کړې وایي: ما هلته له ډېرو امریکایانو څخه وپوښتل چې تاسې په کوم دین یاست او په څه شي ایمان لرئ؟ هغوی راته په ځواب کې وویلې چې مونږه په هېڅ کوم دین معتقد نه یو، ځینو به ویلې چې په خپل دماغ او قوت باندې معتقد یو او کوم خالق نه پېژنو.

یو استاد ډېره په زړه پورې کیسه کوي: یو یهودي له یو مسلمان قصاب سره خواکې دوکان درلود، په مسلمان قصاب به هر وخت بیروبار و او ډېرو خلکو به ترې غوښته اخسته، هغه یهودي بله ورځ متوجه شو چې قصاب پر لوحه لیکلي دي غوا، پسه او حلال مرغان. یهودي هم خپله لوحه بدله کړه او پرې یې ولیکل: غوا، پسه، چرګ او حلال خوګ.

ځینو مسلمانانو په رسمي ډول د امریکا او اروپا له مسلخونو څخه لیدنه کړېده، غوره ده د ځینو راپورونه دلته هم ذکر کړو:

شیخ محمد حرکان د اسلامي هیوادونو د کنفرانس رئیس د عربستان د علمي بحثونو او فتواو د کمیټې ریس ته د وارداتي غوښو په اړه یو لیک واستوه:

**د لیک متن**

د ریاض د علمي څېړنو، فتوا او ارشاد محترم رئیس ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته... وبعد!

د خوښۍ ځای ده چې ستاسې محترم حضور ته لیک استوم، او همدارنګه یادونه کوم چې مونږ ته زیات رسمي او غیر رسمي راپورونه رسیدلي دي او ددې خبرې څرګندوینه کوي چې استرالیا چې کومو اسلامی هیوادونو ته غوښه استوي په ځانګړي توګه د (الحلال الصادق) شرکت چې د هغه خاوند یو قادیاني[1] چې حلال

---

۱- د قادیانیانو ډله د غلام محمد قادیانې پیروان دي. دا سړی د هند په قادیان سیمه کې راپیدا شو او دعوه یې وکړه چې حضرت محمدﷺ وروستی پیغمبر نه ده بلکه له هغه وروسته هم پیغمبران راځي چې له خپل ځان یې موعود عیسی، موعود مهدی ونوموه او ادعا یې وکړه چې پرې دري، عربي، اردو او

صادق نوميږي ده، په هېڅ صورت د څارويو په حلالولو کې اسلامي قوانين په پام کې نه نيسي، نو له همدې امله مونږه د استراليا د اسلامي موسساتو اتحاديې نه غوښتنه وکړه تر څو ټول شرکتونه په خپل کابو کې وساتي او هر شرکت ته په رسمي ډول ټاپه شوې تصديق پاڼې ورکړي تر څو ددې درغلی مخه ونيول شي[1].

نو ستاسې له محترم حضور څخه غوښتنه کوو تر څو کوم سوداګران چې له ياد هيواد نه غوښه وړي بايد له ډېر احتياط څخه کار واخلي او د نوموړې موسسې شهادت ليکونه په پام کې ولري تر څو مو د غير اسلامي ذبحو څخه مخنيوی کړی وي.

له الله ﷻ څخه غواړم چې له ټولو څخه راضي او خوښ شي. عمومي مشر محمد علی الحرکان[2].

د استاد احمد بن صالح محايری راپور چې له برازيل څخه سعودي ته په غوښه استولو باندې يې برابر کړی ده:

انګليسي ژبو وحی راځي، هغه د ځان لپاره څلور خليفه ګان وټاکل، د هغه د مرتد کيدو حکم د د بينظير بوټو د پلار بوټو پر وخت د اسلامي علماؤ لخوا ورکړل شو او د ضياء الحق د حکومت پر وخت تطبيق شو. دا چې انګريزانو د هغه په پيدا کولو کې نقش درلود نو ځکه يې زياتره اوس په انګلستان کې ژوند کوي او خلکو ته د فريب ورکولو په خاطر يې پر ځان احمديه نوم ايښی ده، همدارنګه د (MTN) په نوم تلويزيون هم لري چې له لندن څخه خپريږي.

١- البحوث العلمية جزء ٢، صفحه: ٦٩٠)

٢- البحوث العلمية جزء : ٢، صفحه: ٦٩٠).

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله محمد، وعلى آله وأصحابه أجمعين.

محترم ريس شيخ عبدالعزيز ابن باز... حفظه الله تعالى.
االسلام عليكم ورحمة الله وبركاته! وبعد:

ستاسې د ليک په ځواب کې د ۱۳۹۸ کال د رجب د مياشتې له ۱۴ مې څخه تر ۱۳۹۸ د رجب ۳۰ مې پورې ما لاندې برازيلي ښارونو ته سفر کړيده چې په هغوی کې د غوښې د استولو سوداګريز شرکتونه شته دي:

کورتيبا - چې ۴۵۰ کيلو متره مساحت لري.
بومطاکروسا - چې ۲۱۰ کيلومتره مساحت لري.
وکامبوکراندي - چې ۷۵۰ کيلومتره مساحت لري.
وکويانا - چې ۱۲۵۰ کيلومتره مساحت لري.
وغويانا - چې ۱۱۰ کيلومتره مساحت لري.
وبروذينتي برودينتي - چې ۲۵۰ کيلومتره مساحت لري.
وسان جوزيف - چې ۳۷۵ کيلومتره مساحت لري.

پردې برسيره چې ما دلته ټولو ميشتو شرکتونو سره اړيکه ونيوله د څارويو د حلالو پر کيفيت مې هم هم څيړنې وکړې چې پدې راپور کې به يوازې د هغو شرکتونو يادونه وکړم چې سعودي ته غوښه استوي، همدارنګه خپل اندونه او وړانديزونه به هم وار وار ستاسې مخې ته کېږدم.

د برنسيسا د چرګانو فارم چې د بارانا ولايت په بونتا کروسا ښار کې موقعيت لري، هر مياشت يوسل او پنځوس تنه چرګان توليدوي، چې له حلالولو او بندولو وروسته يې ډېری عربي ا واسلامي

هيوادونو ته د بتروبراز برازيلي شـرکت پـه وسـيله اسـتوي، د نومـوړو هېوادونو څخه مسقط، عمان، کويټ او سـعودي عربسـتان د يـادولو وړ دي. دوی دا مرغان په پاکټونو کې اچـوي چې پـه هغـو بانـدې د پاسه په عربي ژبه ليکل شوي وي (ذبح على الطريقة الاسلامية). کله چې د ځينو اسلامي هيوادونو د سوداګرۍ وزارت له نوموړو شرکتونو څخه تصديق پاڼې وغوښتې تر څو ثابتـه کـړي دا پـه اسـلامي طريقـه ذبح شوي نو هغوی پاتې راغلل، بيا حسين العميري له ما سره اړيکه ونيوله او ما ورسره ومنله چې بايد هر کارتينر ته کاغذ ورکړل او پرې وليکل شي چې دا په اسلامي طريقه حلال شوي دي.

د ۱۳۹۸ کال د رجب په ۱۴ له لوندرينا څخه کورتيبا تـه ولاړم او د هغه ځای د ټولنې مشر حسين العميري مې لـه ځانـه سـره کـړ او د شرکت د څارلو لپاره ووتو، هلته په شرکت کې ما خپله لانـدې شـيان وليدل:

هلته مې وليد چې ژوندي مرغان له پښو څخه ځوړنـد تـړي او بيـا همداسې په متحرک شکل وړل کيـږي، هلتـه يـو کـس چـاړه پـه لاس ولاړ وي او د مرغانو وريدونه په ډېره چالاکۍ پرې کوي تر څو دويـم چرګ ترې تېر نشي او همداسې ادامه لري[1].

لدې حالت نه تر خلاصېدو وروسـته يـاد چرګـان يـو بـل ځـای تـه وړي چې هلته اوبه ورته ګرمې شوي وي او پکې يې ګوزاروي تر څـو يې بڼکې ترې جلا شي، پای کې يې په پاکټونو کې بندوي.

---

١ – البحوث العمية، جزء: ٢، صفحهء: ٦٩٣

لویه ستونزه دلته وه چې نوموړي قصاب نشو کولی په دومره چټکی سره د چرګ ټول ورید پرې کړي، همداسې په سرعت به اوبو ته اچول کېده چې د مرغانو روح به لا پوره نه و وتلی او د خفه کولو په څېر و، همدارنګه باید د قصاب عقیده هم څېړل شوې وای چې په کومه عقیده ده؟

له مسلخ څخه تر وتلو وروسته مو د نوموړي شرکت له رئیس او نورو غړو سره ناسته وکړه او ورته مې ټولې هغه ستونزې چې ددوی د شرکت د ذبحې په برخه کې وې وکړې، اخر کې مې ورته اسلامي اصول هم ورروښودل او د احتیاط سپارښتنه مې پرې وکړه، په ځانګړي ډول هغه غوښو باندې چې اسلامي هیوادونو ته یې استوي.

د شرکت مدیر راته وویلې: مونږه کولی شو چې د خپل شرکت ذبح اسلامي کړو او همدارنګه مسلمان قصاب د ذبح کولو لپاره استخدام کړو خو دا ټول کارونه هغه وخت ممکن دي چې اسلامي هیوادونه مونږه سره په یوه معلومه اندازه موافقه وکړي.

له دفتر څخه تر وتلو وروسته مې د هغه ځای د اسلامي کمېټې مشر د هغوی غلطی ته متوجه کړ او ورته مې وویلې تاسې څنګه دا ټاپه کوی پداسې حال کې چې خپله مو نه ده لیدلی؟ وروسته یې راسره وعده وکړه چې تر دې وروسته به له لیدو پرته ټاپه نه کوي[1].

**مناقشه:**

١- (البحوث العلمية جزء : ٢، صفحه: ٦٩٤)

د پورته لیک له لوستلو وروسته به پوه شوي یاست چې نوموړي شرکت کومې ستونزې درلودې او د هغه دلایل مو هم واورېدل، هغه څو بنسټیزې ستونزې په لاندې ډول ښودلي دي:

١- د یاد کس لخوا د چرګانو غاړې په دومره چټکۍ سره پرې کیږي چې د شریانونو او وریدو د پاتې کېدو امکان موجود وي.

دا پدې معنی ده چې باید د شرعي ذبحې لپاره د ذبیحې ټول وریدونه پرې شي، او که د قصاب د چالاکۍ له مخې ټول وریدونه پرې نشي نو اسلامي ذبح صورت نه نیسي.




٢- د غاړې پرې کولو وروسته، چرګ ډېر ژر دګرمو اوبو منځ ته غورځوي چې ساه یې لا پوره نه وي وتلې او اکثره وخت د اوبو له وجهې مړ کیږي.

٣- د قصاب په اړه پوره معلومات نه وي چې دا اهل کتاب ده او که بت پرست او یا هم هیڅ عقیده نلري، ځکه په لویدیځو هیوادونو کې ډېر خلک داسې شته چې په هیڅ دین عقیده نلري.

٤- د اسـلامي موسسـاتو د تصـديق پـاڼو سـتونزه: دا چـې د مسلمانانو ټولنې ته د تصديق پاڼو په بدل کې له هر کانتينر څخه پيسې اخستل کيږي او هغوی هم له څيړنې پرته د څو روپيو په خاطر تصديق پاڼه ورکوي، چې ياد کس د هلته د مسلمانانو د ټولنې له رئيس سره په اثبات ورسوله.



٥- د شرکت رئيس اعتراف وکړ چې ذبح يې اسلامي نده، ولې هغه وخت به اسلامي ذبح کوي چې د مسلمانو هېوادو غوښتنې ورته څرګندې شي او هغوی سره قرارداد وکړي او که نه نو کارونه به يې هماغسې د پخوا په څېر روان وي.

د (الوطن العربي) نومې مجله چې په پاريس کې د عربي مېشتو خلکو لخوا په عربي ژبه خپريږي، په دنمارک کې د غوښو په يو شرکت کې له يو عرب کارکوونکي محمد الابيض سره مرکه کړې، هغه له دنمارک څخه اسلامي هيوادونو ته د غوښې د ليږد په اړه وايي:

هغوی يوائځې په پاکټونو ليکي (ذبحت على الطريقة الاسلامية) چې دا خبره يې درسته نده ځکه هغوی ټوله حلاله د برق پوسيله کوي[1].

دا چې اوس زمونږ هيواد افغانستان ته دا غوښې راوړل کيږي کومه ده د سوداګری وزارت چې پدې اړه تحقيق او څيړنه وکړي؟؟

**غير اهل کتاب او ګډ غير اسلامي هيوادونه**

هغه هيوادونه چې اسلامي او اهل کتاب نه وي له هغوی څخه راوړل شوې غوښه بې له شکه چې حرامه ده ځکه، هلته بت پالونکي، لمرپالونکي، ملحدان، کمونستان... او نور چې اصلاً د الله پر وحدانيت عقيده نلري مېشت دي نو د مشرک، ملحد، کمونېست، مرتد، دهري او نورو کافرانو خوراک مسلمانانو ته ناروا ده.

د اسلامي فقې پوهانو ويلي ده چې اسلامي ذبح يوائځې له مسلمان او يا اهل کتاب څخه صحيح کيږي نو پدې اعتبار چې نور هر څوک وي د هغوی ذبح حرامه ده، او دا د ټولو فقهاؤ حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي په نزد او همدارنګه د ابن مسعود، ابن عباس، على، جابر، ابوبردة، سعيد بن المسيب، عکرمة، الحسن بن محمد، عطاء، مجاهد، ابن ابي ليلى، سعيد بن جبير، مرة الهمذاتى او الزهري رضي الله عنهم قول هم ده[2].

ستر دليل همدغه ده چې نامسلمانان د الله نوم نه ذکر کوي بلکه پر ذبيحه باندې له الله پرته بل نوم اخلي او الله جل جلاله فرمايي:

---

۱- (البحوث العلمية جزء : ۲، صفحه: ۷۱٤)

۲- الموسوعة الفقهية ٤/ ۷٤٤۸

﴿حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلۡمُنۡخَنِقَةُ وَٱلۡمَوۡقُوذَةُ وَٱلۡمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيۡتُمۡ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ﴾ [المائدة: ٣].

همدارنګه يو مسلمان ته اجازه نشته چې له ګډو (مسلمان او غيرمسلمان) هيوادونو څخه غوښه وخوري، ځکه چې هلته کيداى شي حلاله کافران وکړي او دا خو پخوا ذکر شو چې د کافر د لاس خواړه حرام دي او ذبيحه يې هم حرامه ده.

## افغانستان ته راوړل کېدونکي غوښې

نن ورځ چې د افغانستان په بازارونو کې کومې غوښې پيدا کيږي په لاندې ډول دي:

١- داخلي (افغاني) حلال کړل شوې غوښې: زمونږ هېواد کې ډېر قصابان خپله څاروي حلالوي، نو څنګه چې دوی مسلمانان دي ددوي د لاس په غوښه کې کومه ستونزه نشته.

٢- د افغاني فارمونو چرګان: نن ورځ په افغانستان کې هم ځيني د چرګانو فارمونه لکه د هرات فارم جوړ شوي دي اودا چې دوی خپله مسلمانان دي او وايي هم چې پر اسلامي اصولو يې حلالوي نو غوښه يې حلاله ده.

٣- پاکستاني چرګان: دا چرګان چې ژوندي يا حلال کړل شوي له پاکستان څخه راوړل کيږي نو هغه حلال دي.



دا قصاب وايي چې دا چرګان يې ژوندي له پاکستان څخه راوړي دي او دوی خپله حلال کړي دي

٤- بهرني (امريکايي، برازيلي...) چرګان: دغه چرګان چې له غير اسلامي هيوادونو څخه په پاکټونو کې راوړل کيږي غوښنه يې حرامه ده.




تاسې په پاکټ ليکنو ته وګورئ:
په عربي ليکل شوي (انتاج البرازيل) د برازيل توليد.
په انګليسي ليکل شوي:
Product of Brazil

په تاسف سره چې زمونږ ځيني هيوادوال برسيره پردې چې انګليسي او عربي دواړو ژبو باندې پوهيږي يادې غوښې رواګڼي او خوري يې.

ځيني فريبکاره پلورونکي بيا همدغه برازيلي چرګان له پاکټونو څخه وباسي په چنګکونو کې ځوړندوي او د پاکستاني او داخلي چرګانو په نامه يې خرڅوي، چې تقوا داره مسلمان ورونه بايد پدې اړه ځانګړې پاملرنه وکړي.

| | |
|---|---|
| تاسې دا چرګان ګورى چې له پاکټونو څخه ايستل شوي او ځوړند شوي دي، څرګنده ښکاري چې يخ يې اوبه شوى دى. |  |

ځيني ورنونه چې د ايرانيو ورنونو په نامه په بازار کې خرڅيږي دڅېړنو په اساس چې په اړه يې شويدي، اصلاً هېڅ ايراني ورنونه افغانستان ته نه راځي.

حاجى صيب زمرى د هېواد يو تن سوداګر يې په اړه وايي: يو ځل مې له ترکيې څخه يو کانتينر ايراني ورنونه افغانستان ته راوړل، يو څه ګټه يې وکړه نو بيا مې له هماغه شرکت سره چې په ترکيه کې و اړيکه ونيوله او بل کانتينر مې ترې وغوښت خو هغوى راته وويلې چې يو مياشت وروسته به در ورسيږى، د ايران او ترکيې تر منځ خو دومره ډېره لاره نده خو له هغوى سره په خبرو کې پوه شوم چې هغوى وويلې: دا ورنونه له امريکا څخه د سمندر له لارې ترکيې ته

راوړل کیږي او بیا په اسلامي هیوادونو په ځانګړي توګه افغانستان باندې پلورل کیږي.



چې د ایراني ورنونو په نامه خرڅیږي.




تاسې دغه د غوښې کارتن بنې برخې پورته خوا دایره کې په ځیر سره وګورئ چې په ډېر واضح ډول (U S) پرې لیکل شوي دي. چې د امریکا متحده ایالاتو مخفف ده.

سید نورالله د حبیب حسام شرکت مسئول چې د کابل په تهیه مسکن د میوې نوې منډې تر څنګ دفتر لري او د (د حلالې غوښې پلورنځی) تر نامه لاندې پلورنځی هم لري وایي چې شرکت یې غوښه له امریکا، کاناډا او برازیل څخه افغانستان ته راوړي.

هغه د پوښتنې په ځواب کې وویلې: ایران او یا کوم بل عربي اسلامي هیواد افغانستان ته غوښه نه استوي او کومه غوښه چې له ایران څخه راوړل کیږي دا له بل هیواد څخه هلته راوړل شوي وي، اصلاً ایران افغانستان ته هیڅ غوښه نه صادروي.

کله چې ترې وپوښتل شو چې تاسې کومه غوښه پلوری حلاله ده؟

وویلې: مونږه ځکه ورته حلاله وایو چې صحي ده او صحي تصدیق پاڼې لري همدارنګه په ښه ډول افغانستان ته راوړل کیږي.

هغه وویلې: هر شی چې نفس ومني زما په اند حلال دي!!؟

کله چې ترې وپوښتل شو چې د قران د ایت له مخې دا غوښه حلاله ده؟

هغه وویلې: دا غوښه صحي او ارزانه ده او خلک یې له همدې کبله اخلي هم، ښایي چې بیخي حلاله نه اوسي.

| | |
|---|---|
| د حبیب حسام شرکت<br>مسئول<br>محترم سید نورالله |  |

هغه وویلې: اصلاً له ترکیې او نورو عربي هیوادو څخه افغانستان ته غوښه ځکه نه راوړل کیږي چې مونږه ته ډېره په لوړه بیه تمامیږي خو که له کاناډا، برازیل او امریکا څخه یې راوړو په ارزانه بیه یې راته حسابوي.

هغه د برازیل په هکله وویلې: د برازیل غوښه زه فکر کوم حلاله ده ځکه چې هغه یو آسیایي او اسلامي هیواد ده؟؟!
(هغه لا نه پوهېده چې برازیل چېرته واقع ده، برازیل خو د آمریکا په جنوب کې واقع ده).
د ورنونو په هکله چې د ایراني ورنونو په نامه خرڅیږي وویلې چې دا برازیلي ده، غوړ نلري او خلک تر ې ګټه اخلي.

| | |
|---|---|
| د برازیلي ورنونو تصویر |  |

د پلي ګرمز شرکت یو امریکایي شرکت ده چې غوړ لرونکي او مکمل ورنونه صادروي.

| | |
|---|---|
| دا هم امریکایي ورنونه چې غوړ لري |  |

په ټول بازار کې همدا ورنونه خرڅیږي، یوازې کمپنۍ یې فرق کوي.

هغه وویلې: اوس خو ورنونه او پاکتي چرګان له برازیل پرته له بل هیڅ هیواد څخه نه راوړل کیږي، چې تاسې یې په پاکټونو باندې د برازیل نښه او نوم لیدلی شی.

<table>
<tr>
<td>
</td>
<td>د پاکټ شاته په صراحت سره لیکل شوي چې (انتاج البرازیل) یعنې د برازیل تولید.</td>
</tr>
</table>

<table>
<tr>
<td></td>
<td>ګریلر برازیلي غوښې دي چې مصرف پرې کم راغلی ده، ټول وزن یې یو کیلو راځي</td>
</tr>
<tr>
<td>
</td>
<td>بریلر هم برازیلي غوښې دي چې د لویو چرګانو دي او وزن یې له دریو څخه تر څلورو کیلو پورې رسیږي.</td>
</tr>
</table>

هغه د امريکايي غوښو په اړه وويلې: تايسون د هغه امريکايي چرګانو غوښه ده چې سينه، ځيګر... يې ايستل شوي او پخوا په بل هيواد پلورل شوي دي او پاتې برخه يې په پوره ډول افغانستان ته صادريږي.

| | |
|---|---|
|  | تايسون غوښه چې ځيګر او سينه... نلري. |

د تايسون غوښه ارزانه ده نو ځکه يې خلک ښه او ډېر استعمالوي.

| | |
|---|---|
|  | د تايسون کارتن ده چې پرې په عربي ژبه ليکل شوي دي (الولايات المتحدة الامريکية)<br>د امريکا متحده ايالات |




په عربي لیکل شوي دي:
(انتاج الولایات المتحدة المریکیة)
او په انګلیسي ترې لاندې لیکل شوي:
(Product produced in USA for Export)
د دواړو معنی ده:
د امریکا د متحده ایالاتو تولید د صادرېدو لپاره.

هندي غوښې: هندي غوښې هم افغانستان ته راوړل کیږي، هغه وویلې چې د مېښې غوښه، د مېښې پښې او ځیګر افغانستان ته صادروي.

نوموړي وویلې: ددغه شرکت رئیس چې افغانستان ته غوښه صادروي مسلمان ده ځکه هندوان څاروي نه حلالوي.



د هندوستان څخه راوړل شوې د مېښې غوښه

په هندوستان کې د ذبحې په ډول مې له یو تن د پوهنتون استاد محترم عبدالجلیل فقیه سره خبرې وکړې چې نوموړي خپله په هندوستان کې د ذبحې شرکتونه لیدلي، نوموړي خپل نظر داسې څرګند کړ:

زه ددغه شرکت مرکزي دفتر ته چې په پونه ښار کې ده ولاړم، ددغه شرکت خاوند چاچا مصطفی نومیږي چې یو مشهوره څېره ده، او مسلخونه لري، د څارویو د حلالولو ځای ته ولاړو، هلته مې یو اوږد تېغ (چاړه) ولید چې پرې الله اکبر لیکل شوي و.

اوس باید له مفتیانو او علماؤ څخه پوښتنه وشي چې که څوک په خوله الله اکبر ونه وایي او یواځې یې دغه کلمه په چاړه لیکلې وي، ذبح صحیح کیږي او که نه؟

استاد فقیه وایي: دوی اوس هر کال ځانته نوي اسلوب راپیدا کوي، هلته یې په کسټو کې د الله اکبر اواز ثبت کړی او چالانوي یې، کله چې ذبح کیږي نو معمولاً د کسټې څخه اواز اورېدل کیږي.

پوښتنه بیا اسلامي علماؤ ته متوجه شوه چې آیا که قصاب د ذبحې پر وخت الله اکبر ونه وایي او کست یا سي ډي یې ووایي څه فتوا ورکوي؟

استاد فقیه ددې سوال په ځواب کې چې په کارتنو باندې یې حلال لیکل شوي داسې وویلې:

هلته ما په خپلو سترګو ولیدل چې ټول څاروي یو ډول حلالیږي، بیا کارتنونه شته دي چې لدې څخه یې ډکوي، توپیر دومره ده چې که یې اسلامي هیوادونو ته صادروي نو د کارتنونو د پاسه د حلال کلمه لیکي او بس، نوره غوښه ټوله یو شان ده.

**د پلورونکو ستونزې**

د غوښو پلورونکي لاندې ستونزي لري:

١- ځيني پلورونکي خو نه پوهيږي چې زه کومه غوښه پلورم له کوم هيواد څخه راوړل کيږي، خو دوی يې د عربي، ترکي او يانورو اسلامي هيوادونو په نومونو باندې خرڅوي.



کله چې له پلورونکي څخه وپوښتل شي نو هغه وايي چې غوښه يې له اسلامي هيوادونو څخه راوړل کيږي.
دغه سپين ږيری کاکا وايي چې د ترکې، او عربي غوښه له دوبی څخه راوړل کيږي.

٢- ځيني پلورونکي بيا له فريب او چل څخه کار اخلي او همدغه برازيلي، هندي او امريکايي غوښې د دوبی او ترکي غوښو په نامه پلوري.



لکه تاسې چې په تصوير کې وينى دې سړي له کارتنو څخه يخ وهلي چرګان راويستي او ځوړند کړي دي.

۳- ځيني دوکانداران بيا قصداً همدا امريکايي او برازيلي ورنونه او چرګان له داخلي چرګانو او ورنو سره يو ځاى کوي او پلوري يې.

**د راوړل شويو غوښو په اړه د علماؤ د اندونو او فتواؤ ستونزه**

زمونږ د هيوادوالو ستونزه دا ده چې کله له کوم عالم څخه ددې غوښو په اړه پوښتنه وکړي نو متردد ځوابونه ورکوي او يو له بل سره توپير لري له همدې امله ده چې خلک حيران پاته کيږي. پدې برخه کې لاندې ستونزي مطالعه کولى شو:

۱- د ځينو علماؤ په اند چې اوسنى امريکا او اروپا د اهل کتابو له هيوادونو څخه دي نو د اهل کتابو غذا او ذبيحه خو مسلمانانو ته روا ده.

۲- ځينې عامې فتوې وي چې له څيړنې او مطالعې پرته ورکول کيږي.

۳- دغه غوښې د اسلامي ټولنو د تصديق پاڼو پوسيله تصديق شوي وي.

د لـومړنی ستونزې په هکله بايد ووايو چې زمونږ علماء بايد لومړی پدې ځان پوه کړي چې دوی کومو هيوادونو ته اهل کتاب وايي، رښتيا هم اهل کتاب دي او که نه؟

د يادو هيوادونو په هکله چې نن کومې څېړنې تر سره شوي دي ويل کيږي چې دا هيوادونه د اهل کتابو په ډله کې نه راځي په ځانګړي توګه د فرانسې له انقلاب وروسته چې ټول په سيکولر او لادينه حکومتونو بدل شول، اوس هلته هغه قوانين تر کار لاندې وي چې له اديانو سره هيڅ اړيکه نه لري.

استاد ابوبکر هاشمي د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځۍ استاد چې له امريکا څخه يې خپله ليدنه کړېده وايي: ما هلته له ډېرو خلکو څخه د هغوی د ايمان په هکله وپوښتل خو يواځې همدا يوه خبره مې اورېده چې زه د خپل د مټ پر قوت معتقد يم، بل به ويلې زه هيڅ دين نه پېژنم، بل به ويل چې که زه پر چا ايمان ولرم نو پر هغه بايد اعتماد هم ولرم نو هيڅ کار بايد ونکړم. هغه څوک چې دين لورته يې توجه وه، ډېر کم وو او زياتره يې سپين ږيري او کشيشان وو چې له ذبح سره يې هيڅ کار نه درلود.

هغه شرکتون چې څاروي حلالوي ازاد شرکتونه دي چې په هيڅ دين هم عقيده نه لري.

نو زمونږ علماء بايد پوه شي چې هغه څوک چې زنا، شراب، سود، همجنس بازي... ته قايل دي او قانون يې ورته د مشروعيت اجازه ورکوي ايا ورته اهل کتاب ويل کيږي؟ او ايا دوی ته داهل کتابو ويل د اسماني دينونو سپکاوی ده او که نه؟

دویمه ستونزه د مسلمانانو تر منځ د علماؤ عامې فتوې دي چې له هغې څخه څوک سم درک او فهم نشي اخستلای د بیلګې په توګه دا غوښې د هر چا پر مزاج پورې اړه لري. او چې ترې د فتوا د مراجعو په اړه وپوښتې نو ځانګړی او سم ځواب نشي ورکولی، د مثال په ډول د کابل پوهنتون د ځمکې پېژندنې پوهنځی، پنځم کال د شپې محصلینو د خپلې پوهېدنې لپاره د افغانستان سترې محکمې، افتا او احتساب څانګې ته یو غوښتنلیک ولیږه، نوموړې ریاست د یاد لیک په ځواب کې د (۱۱۵/۳۹) نمبر مکتوب (۳۰/۴/۱۳۸۸) کې داسې لیکلي و:

د ځمکې پیژندنې د پوهنځی د پنځم صنف محصلینو پوښتنه کړېده چې ایا له غیر اسلامي بهرنیو هیوادو څخه چې کومه غوښه راوړل کیږي، تاسې مهرباني وکړی او ووایئ چې دا ذبح په اسلامي طریقه کیږي او که نه؟ حلال دي او که حرام؟ ستاسې د شرعي فتوې ورکولو په هیله.

الجواب والله اعلم بالصواب

د افتاء ریاست د غوښو راوړونکو له څو شرکتونو سره له خبرو اترو وروسته د نوموړي شرکتونو خاوندانو په نوموړو هیوادونو کې د څو اسلامي مراکزو چې په لاتیني امریکا، برازیل او د امریکې متحده ایالاتو کې واقع دي تصدیق پاڼې ورښودلي چې په اسلامي طریقه ذبح شوي دي، د افتاء ریاست د دغو کسانو په ځواب کې چې د فتوې غوښتنه یې کړېده وایي چې: (که څوک پرهیزګاري کوي نو نه دې خوري، او څوک چې نړیوالو قوانینو ته درناوی لري نو اختیار لري) د فتوی قوت تر پایه پورې خوندي دی.

د افتا او احتساب د ادارې د فتوى متن.



دولت جمهوري اسلامي افغانستان
ستره محکمه
رياست عمومي افتاء و احتساب

ورقة در خواست محصلين صنف پنجم پو هنځى زمين شناسى بر اين موضوع بوده که گوشت کشور هاى خارجى وغير اسلامي ما نند کا نادا برا زيل وغيره وارد ميگردد لطف نموده بگو ييد که ايا اين گوشت هاى وارداتى به طريقه اسلامى ذبح ميگردند يا خير ؟وحلال ميبا شد ويا حرام در مورد خوا هان فتو ى شرعى شده اند

الجواب والله اعلم با لصواب

ريا ست افتاءبا نما ينده وارد کننده گان گو شت از کشور هاى خارجى در زمينه گفتگو نموده نما ينده شرکت هاى وارد کننده گوشت چندين تصديق نا مه را که از مرا کز اسلامى واقع در امريکا لا تين اتحاديه موسسا ت اسلامي در برا زيل وايا لات متحده امريکا بوده بر ياست دارالافتاءتقديم نموده اند که ذبح ايشان به طريقه اسلامى ميبا شد ريا ستوفتا ءدر جواب کسا نيکه قبلاًاز ريا ست افتاءدر موضوع گو شت مرغ فتوى خوا سته بودند هدايت داد(کسانيکه پرهيز گارى ميکنند نخورند وکسانيکه به تعهدات بين المللى با ور دارند مختار اند )اين فتوى به قوت خود با قى است

**تبصره:**

اصلاً علماء چې د يو څيز په اړه فتوا ورکوي بايد:

١- بايد دوى او يا ددوى لخوا ليږل شوي استازي نوموړى مسلخ يا د حلالولو ډول او ځاى ليدلي وي او يا له هغه کسانو څخه تپوس وشي چې دوى دا شرکتونه له نږدې څارلي وي لکه وړاندې چې يې يادونه وشوه او هغوى وويلې چې اصلاً دا شرکتونه په اسلامي طريقه ذبح نه کوي.

٢- لازمه ده چې دارالافتاء د مسلمانانو لپاره دا څرګنده کړي چې دغه نني امريکايي او اروپايي هيوادونه چې هر ډول ناروا ته پکې ځاى ورکړل شويده اهل کتاب دي او که نه؟

٣- د نوموړي هيواد د ذبح کولو اسلوب او کړنلاره چې زياتره نن سبا د برق او يا غازو پوسيله وژل کيږي ايا له اسلام سره په ټکر کې دي او که نه سم دي؟

٤- اوس خو پدغه هیوادونو کې د الله نوم نه اخستل کیږي نو باید د فقهاؤ اندونه چې اهل کتاب د الله نوم وانخلي او ذبح وکړي څیړل شوي وای چې هغوی پدې اړه څه فتوا ورکوي؟

٥- دغو درنو مفتیانو باید په واضح ډول دا ویلي وای چې دا غوښه حلاله ده او که حرامه، که حلاله ده نو په کوم دلیل او که حرامه ده څه دلیل لري؟ مګر دا فتوا چې په یوه جمله کې ورکړل شوېده (هغه خلک چې پرهیزګاري کوي باید ونخوري او څوک چې نړیوالو تعهداتو ته درناوی لري اختیار لري) څه معنی لري. دا دوه نظره په یوه فتوا کې څنګه ځائېدای شي؟ که حلاله وي نو پرهیزګاران ترې ولې مستثنی دي او که حرام دي نو عام خلک یې ولې وخوري ایا داسې کوم دلیل په قرانکریم کې شته چې د تقوادارو لپاره د خوګ غوښه ناروا او د نورو عامو خلکو لپاره روا ده؟؟؟، بله دا چې نړیوالو تعهداتو ته درناوی په کومه معنی استعمالیږي، ایا هماغه تعهداتو ته درناوی چې پکې سود او شراب هم حلال ګڼل شوي دي، نو باید د درناوي په صورت کې نوموړي هم مشروع وي؟ هلته هم باید داسې فتوا ورکړ شي چې څوک تقوا کوي نو سود او شراب دې نه خوري خو عام خلک یې خوړلی شي؟؟؟ زما په اند په دې فتوا کې له چټکتیا څخه کار اخستل شوی ده، محترم علماء دې پدې اړه لمړی څیړنه او تحقیق وکړي او بیا دې وروسته خپل معلومات وړاندې کړي چې ما هم د همدې لپاره دا بحث وړاندې کړ تر څو پخپله فتوا باندې له سره کتنه وکړي.

## دریم بحث:

## د بهرنیو هیوادونو څخه راوړل شوي خوراکي توکي

**له بهرنیو هیوادونو څخه رالیږل شوي خوراکي توکي دوه ډوله دي:**

۱- هغه خوراکي توکي چې په هغوی کې زیاته لاسوهنه نه کوي لکه اوبه، سبزیجات، میوې، وړه، غوړي او داسې نور، ددغو څیزونو خوړل چې له هر هیواد څخه راوړل شي کومه پروا نکوي.

۲- هغه خوراکي توکي چې پکې لاسوهنه کیږي نو په دې برخه کې باید هر مسلمان دوه ټکي په نظر کې ولري:

لمړی: د محتویاتو پیژندنه: کوم خوراکي توکي چې له بهر څخه هیواد ته راوړل کیږي د بیلو جوړښتونو او محتویاتو لرونکي وي چې په هغوی کې ځیني له عادي څیزونو لکه اوړو، میوې، کبانو... څخه جوړ شوي وي چې د یادو توکو په خوړلو کې مسلمان کومه ستونزه نه لري.

دویم: ځیني دغه توکي له حرامو شیانو څخه جوړیږي مثلاً استاد عبدالله علی حسین د الازهرشریف له علماؤ څخه ده پخپل [اللحوم - أبحاث مختلفة في الذبائح والصيد واللحوم المحفوظة] نومي کتاب کې داسې لیکلي دي:

د (بولي بیف) په نامه کنسرو غوښې او د (کیف اکسو) په نامه د غوا یخني یا د چرګ ښوروا چې مصر ته له اروپایي، استرالیایي او امریکایي هیوادونو څخه راوړل کیږي ټول حرام دي، ځکه پدې کې د هغه څارویو غوښې استعمال شوي چې د وهلو په وسیله وژل شوي دي، او پدې ټولو هیوادونو کې د ذبح طریقه یوشان ده چې د څاروي په سر باندې کلک وار کوي تر څو د هغوی حواس لمنځه ولاړ شي.

ددې کنسروا ستونزه همدا ده چې پکې له یادو څارویو څخه کار اخلي، همدارنګه ډېر بېسکویټونه چې د همدې څارویو او د خوګ په غوړیو کې جوړوي چې په ځینو حالاتو کې په واضح ډول پرې لیکل شوي هم وي.

کوم ساندویچ چې په افغانستان کې پلورل کیږي د استرالیا له هیواد څخه راوړل کیږي، د حبیب حسام شرکت رئیس همدا خبره وکړه او وې ویلې چې دا ساندویچ له استرالیا څخه مونږه افغانستان ته راوړو.




د ایټالوي ساندویچ کارتن



د کارتن د ننه ساندویچ

د غير اسلامي هيوادونو څخه چې کوم پنير راځي د هغه په اړه علماء وايي چې دغه پنير کې د (مايه) په نامه يو څيز استعماليږي چې هغه د اوزي د شيدې خوړونکو بچيو له نس څخه را اخلي او بيا يې په شيدو کې اچوي تر څو ترې پنير جوړ کړي، که دغه اوزه په اسلامي ډول ذبح نه وي او يا هغه چا حلاله کړي وي چې پر مسلمانانو يې ذبيحه حرامه ده نو دا پنير هم پرې حرام ده[1].

د مړشوي حيوان د شيدو او مايه په هکله له شيخ الاسلام ابن تيميه څخه وپوښتل شو هغه ورته په ځواب کې وويلې: دوه قوله دي، لومړی د امام ابوحنيفه او يو روايت د امام احمد چې روا دي، دويم قول د امام مالک، شافعي او امام احمد دويم روايت ده چې نجس يې بولي.

کوم مشروبات چې له بهرنيو هيوادو څخه راځي په درې ډوله دي:

١- الکولي: دا ډول د اسلام د نصوصو په اساس حرام دي او مسلمان بايد ترې استفاده ونکړي.

٢- غير الکولي: غير الکولي مشروبات کومه ستونزه نه لري اومسلمانان ترې ګټه اخستی شي.

٣- مختلط او ګډ: ځينو مشروباتو کې د فيصدی په اساس الکول وي چې مسلمان ته روا ندي تر څو که هر څومره فيصدي ولري استعمال کړي.

١- مجموع فتاوى ابن تيمية ٣٩٦/٤

## پای او پایله

له بهرنیو هیوادو څخه افغانستان ته د راوړونکو غوښو په اړه د پورته بحث له مخې دې پایلې ته ورسیدو چې:

۱- له برازیل، امریکا، استرالیا او هندوستان څخه چې کومې غوښې افغانستان ته راوړل کیږي د هغوی ذبح په اسلامي طریقې سره نه ترسره کیږي نو مسلمانان باید پکې احتیاط وکړي.

۲- اوسني امریکایي او اروپایي هیوادونو ته د اهل کتابو هیوادونه نشو ویلی ځکه چې په یادو هیوادونو کې سیکولرستي قوانین تطبیقیږي او شرکتونو یا دولت کې د اهل کتابو د دین هیڅ کومه اغیزه نشته.

۳- پدې اړه چې د علماؤ لخوا کومې فتوې ورکول کیږي بیړنۍ او له څیړنو پرته وي چې له خپلو درنو علماؤ غوښتنه کوم تر څو له زیاتې څیړنې وروسته خپلې فتوې نوې کړي.

٤- سانډویچ، کنسرو، او نور هغه خوراکي توکي چې په پاکټونو کې وي د جوړښت او ترکیب له پیژندلو وړاندې باید ونه خوړل شي.

# وړاندیزونه

ددې لپاره چې د افغانستان مسلمان ولس له حلالو غوښو څخه ګټه واخلي لاندې وړاندیزونه وړاندې کوم:

۱- محترم سوداګران دې د غوښو او نورو خوراکي توکو په راوړلو کې اسلامي احکام په پام کې ولري ځکه د حرامو راکړه ورکړه پانګه او عايدات هم حراموي، د یو مسلمان سوداګر لپاره دا اجازه نشته چې غیر اسلامي توکي دې هیواد ته راوړي.

۲- د مشکوکو غوښو څخه د خلاصیدو لپاره باید زمونږ سوادګران په هیواد کې د ننه د چرګانو فارمونه جوړ کړي تر څو هیوادوالو ته د مسلمانو قصابانو پوسیله پاکه او حلاله غوښه وړاندې کړي.

۳- که چیرې له بهر څخه د غوښو راوړل ډېر اړین وي نو ګران سوداګران دې مهرباني وکړي له شرکتونو سره دې د تړونونو له مخې په وړ بیې خبره وکړي تر څو هغوی د اسلامی ذبحې پوسیله ورته غوښه تیاره کړي.

٤- د امکان په صورت کې که څاروي او چرګان ژوندي واخستل شي او بیا هیواد ته له راوړلو وروسته د مسلمانو قصابانو پوسیله ذبح کړل شي لکه له پاکستان څخه چې ژوندي چرګان راځي او بیا دلته حلالیږي.

٥- مسلمان سوداګر کولی شي د پنيرو، کوچ، پيروي... نورو خوراکي توکو لپاره د هيواد د ننه فابريکي جوړې کړي، او علماء دې هيوادوال ددغه شرکتونو د توليداتو د اخستلو لپاره وهڅوي.

٦- که مسئولين وغواړي چې ولس له حلالو غوښو څخه ګټه واخلي نو کولی شي چې له بهرنيو شرکتونو سره له خبرو اترو وروسته پر اسلامي اصولو ولاړ يو مسلخ جوړ کړي.

وصلی الله علی نبينا محمد، وعلی آله وصبحه وسلم.

# اخستنې (ماخذونه)


١ - قرآن الكريم.

٢ - الأصفهاني، أبوالقاسم الحسين بن محمد بن المفضل المعروف بالراغب. **مفردات ألفاظ القرآن**، دمشق: دار النشر / دار القلم (د-ت).

٣- البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله. **صحيح البخاري**، بيروت: دار ابن كثير، الطبعة الثالثة، ١٤٠٧ — ١٩٨٧.

٤ - البيهقي، أبوبكر أحمد بن الحسين بن علي. **السنن الكبرى**، هند: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد (ط ١)،(١٣٤٤ هـ).

٥ - سابق، السيد. **فقه السنة**، بشاور: دارالكتب.- دط، دت.

٦- السجستاني، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي. **سنن أبي داود**. تحقيق محمد محيي الدين عبد الحميد، بيروت: دار الفكر (دط)، (دت).

٧- السَّرَخْسِيُّ، الاِمَامُ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي سَهْلٍ **المبسوط**،(د- ط) (د-ت).

٨- ابن عابدين، محمد امين (ت ١٢٥٢هـ ق)، **رد المحتار على الدر المختار** عمان:المكتبة الاسلامية، ط١، (١٤٢١هـ ق).

٩- الفيروزآبادي، مجد الدين محمد بن يعقوب. **القاموس المحيط**، بيروت: دارالفكر (١٤١٥هـ - ١٩٩٥م).

١٠- كنفرانس رابطه عالم اسلامي و سازمان صحي جهان و كميتهء منتخبهء كنفرانس. **احكام ذبح و ذبائح در اسلام**. ترجمهء نعمت الله شهراني، كابل: وزارت صحت عامه د.ا.ا با مساعدت مالي وتخنيكي سازمان صحي جهان نومبر ٢٠٠٢.

١١- الكويت، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية. **الموسوعة الفقهية الكويتية**، قام بتنسيقه وفهرسته للموسوعة الشاملة ٢ أبوعمر.

١٢- المرغيناني، علي بن ابي بكر بن عبدالجليل. **هدايه شرح بدايه**. (ت ٥٩٣) بيروت: المكتبة الاسلامية (دط)،(دت).

١٣- ابن منظور، محمد بن مكرم الأفريقي المصري. **لسان العرب**. بيروت: دار صادر - بيروت، ط ١ (دت).

١٤- النيسابوري، أبوالحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري. **صحيح مسلم**، بيروت: دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة.

١٥- هيئة كبار العلماء بالمملكة العربية السعودية. **البحوث العلمية**. الرياض: رئاسة إدارة البحوث العلمية والإفتاء، (١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٤ م).